# زنګونه



PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نيټ د دې کتاب سره ډيره خواري کړې ده او په ډير عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول يا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډير سخت منع دی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نيټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited without written permission of Pukhto.Net

د لیکوال چهاپ کتابونه :

◉ ژوند جانان (شاعري) دسمبر ۱۹۹۵ ء

◉ رنګونه (شاعري) دسمبر ۱۹۹۷ ء

خورونکې اداره :

پښتون کلچرل ایسوسی ایشن ( پی سی اے )

رجسټرډ ، پنډۍ - اسلام آباد

نصرت پریس لاهور - ۷۲۳۵۳۹۲ - ۷۲۳۳۹۱۰

# زما کتاب زما په وی


دَ کتاب نوم ———— رنګونه

دَ لیکونکی نوم ———— علی اکبر سیال

ادبی نوم ———— اکبر سیال

ځائے ځکے ———— بټ خیله (اختر غونډی) ملاکنډ ایجنسی

تعلیم ———— ایم اے (پښتو)

دَ چهاپ شمیر ———— یو زر (۱۰۰۰)

بیعه ———— ۱۰۰ (سل روپۍ)

کتابت ———— قربان علی آصف (پنډۍ)

ټائیټل ———— جمال شاه - حامد درانی
هنرکده ، ایمبیسی روډ ، اسلام آباد

دَ ټائیټل مضمون ———— دَ رنګونو په دغه نقشه کښې یوه مرغۍ
په ژوبل حالت کښې ده - او یوه انساني
جُوسه ، لوَړه په لاس ، دَ وینې وینې
ماحول خلاف جنګ کوي -

# تمرون

دَ هغه
رُوڼ، سپین
او سپېځلي
سَحر په نوم،
چې زما دَ
لټول ژوند
او جد وجهد
دَ ارمانونو
نځور دے.

# دَ سیال رنګونه

لیک :- رحمت شاه سایل

دَ انساني رشتو دَ شریک درد، او ژوند ژواک دَ تجربو، او کائنات دَ نظارو نه، راټول کړې شوي محسوسات چې دَ لفظونو په تار کښې اوپېيلې شي. دَغې ته شعر وائي.

په لوړو ټکو کښې شعر دَ لفظونو دَ تصویر نوم دے. په شعر کښې تصویر، په تصویر کښې خیال، او په خیال کښې پیغام دَ انسانانو تر مینځه دَ فکر و نظر، درد او مینې رشته ژوندئ او متحرکه ساتي څه ته چې خیال وائي. که دَ هغې وسعت ته سرے اوګوري. نو دَ شعر وجود ورته ډېر لشت ښکاري او دَ دَه لمن ورته ډېره لنډه تنګه ښکاره شي. خو دَ خیال دغه ټول معنوي وسعتونه که دَ فني کمال فطري باریکیو سره په شعر کښې ځائي کړې شي. نو دَ خیال وسعت محدود، او دَ شعر وجود لامحدود شي. ځکه چې خیال که هر څو دَ شعر دَ وجود سبب کېږي. خو دَ شعر نه بهتر خپل وجود برقرار نه شي ساتلے یعني

دَ شعر وجُود په اصل کښې دَ خیال دَ وجُودِ اَمانتګر وي ـ څنګه چې دَ کائنات دَ لامحدودو نظارو دَ عکسونو وسعتونه، دَ انسان په وړو وړو سترګو کښې ځایږي ـ هم دَ غسې دَ خیال دَ لامحدودو وسعت دَ پاره دَ شعر وجُود که هرڅو وړوکې هم وي خو ناکافي هم نه دے ـ ولې په فني کمال قدرت مونډل ورسره شرط ضرور دے ـ

خیال تقریباً دَ هر ژوندي انسان په زړه او ذهن کښې پیدا کیږي ـ خو دغه خیال چې څنګه پیدا کیږي دَ غسې مري او ورکیږي هم ـ ځکه چې دے ته عام انسان یو شکل و صورت نه شي ورکولے ـ په نورو الفاظو کښې دَ عامو خلقو خیالونه داسې وي لکه څوک چې دَ شپې خوب اووینې او سحر ېئې هیڅ په لاس کښې نه وي ـ یا لکه څوک چې دَ ګلونو نه جولۍ ډکه کړي خو چې په لاره روان شي نو یو یو ګل ترې پرېوځي او اخرکار ېئې دغه ډکه جولۍ تشه شي ـ عام خلق په خپلو ورک شوو خوبونو او خیالونو پسې خفه وي ـ خو دَ دوئي پیداکول دَ دوئي دَ وس خبره نه وي ـ هن دَغه ورک شوي خوبونه او خیالونه کله کله دوئي دَ چا په اواز،

دَ چا په تصویر، او دَ چا په شعرکښې اوموځي ـ او ورته خوشحاله شي ـ ځکه چې اواز دے ـ تصویر دے او که شعر ـ په لټولو کښې دَ خپلو ارمانونو دَ عکسونو سره سره دَ نورو دَ خیالونو ارمانونو او تجربو عکسونه هم لیدے شي ـ

ځکه نو فنونه دَ انسانانو تر مینځه دَ درد دَ لوئې داسې رشتې او رابطې وظیفه ترسره کوي دَ کوموتارونه چې نه شلیدونکې وي ـ او دَ دغې رشتې او رابطې نه دَ ژوندژواک او مینې نور نور رنګونه په مسلسل ډول راپیداکیږي ـ او په ژوندو انسانانو کښې دَ نوو نوو رنګونو دَ اشنایئ سره سره نوې نوې تحریک پیداکوي او دَ هرهر څه نه دَ خوند په احساس دَ ژوند ژواک جذبې بیدارې ساتي ـ هر څو که دَ فنونو پښمیره قسمونه موجود دي ـ خوشعر زما ترنظره دَ ټولو نه مضبوط ، طاقتور منفرد او اثرناک فن دےځکه چې دې لوازمې ښکلېه دَ ژبې سخنتن نه دے ـ بلکه اکثرو فنونو له هم دې ژبه ورکوي !

بائد چې موږ دَ شعر فني حسُن او دَ ابلاغ عظمت نه یوازې تسلیم کړو ـ بلکه احترام هم ورته اولرو

بیا په تېره تېره دَ پښتو شعر ته خو زیات احترام لرل په کار دي ـ ځکه چې که مونږ دَ خپل تاریخ پاڼې واړوُ ـ نو پښتو شعر به دَ ژوند په هره سا هره مرحله، هره سخته او هرهٔ مورچه کښې په خپل ملاتړ کښې دَ ځان ملګرې اُوبینو ـ او که لګ لوړ دَ حقیقت‌پسندۍ نه کار واخلو ـ نو مونږ دا هم منلے شو ـ چې مونږ پښتو شعر ته دومره څه نه دي ورکړې ـ څومره یئ چې مونږ ته ژوند را بخښلي دے ـ

که زه دا اوایم ـ چې پښتو شعر زمونږ دَ زرګونو کالو دَ لوټ شوي تاریخ یوه یوه مرحله او یوه یوه زمانه زمونږ دَ پاره محفوظه کړې ده او زمونږ دَ ژوند ژواک او مینې دَ هر کیفیت درَد او سوې یئ پخپله سوے لمن کښې تر مونږ رارسولي دے ـ نو مبالغه به نه وي ـ

دَ دغې تمهیدي الفاظو نه پس به اوس راشُـو خپلې اصلي موضوع ته :

دا وخت زما مخې ته دَ ملګري علي‌اکبر سیّال دویمه شعري مجموعه "رنګونه" پرته ده ـ علي‌اکبر سیّال اګرچه زما کشر دے ـ خو مونږ هرکله دَ یو بل سره په مساوي

بنیادولو ژوند کړې دے او دَ ډېرو کلولو تېرېدو نه پس نن هم دَ دغې فکرونظر دَ چوکاټ دننه ژوند کوي۔

دَ سَیال متحرک ژوند ته چې اوګورم نو دَ ګران دغه مصرعه راته رایاده شي:

"مینې چې کوم طرف ته مخ کړې انقلاب راولي"

سَیال چې هرچرته پاتې شوې دے او هرطرف ته یې مخ کړې دے نو یو انقلاب یې پیدا کړې دے۔او دَ غسې ژوند هغه ته یو انفرادیت وربخښلې دے۔ هغه که په سیاسي لاروتګ کوو نو هم نکه دَ تېنګې لیندے دَ غشي روان وو او که اوس په ادبي لارو روان دے۔ نو هم یې دَ اسلام آباد غونډې ښار په لاروکوڅو کښې دَ پښتو ژبې مینان پیدا کړي دي۔او دغه لارې کوڅې هم ادب خېزې اومتحرکې ساتي۔

"ژوندځانان" دَ هغه ړومبې شعري مجموعه وه، چې په دسمبر ۱۹۹۵ء کښې چهاپ شوې او خوره شوې وه۔ او دَ پښتو مینانو ستائیلې ده۔ "رنګونه" یې دویمه شعري مجموعه ده چې ماته یې پرې دَ څه لیکلو دعوت راکړې دے۔ سَیال په داسې کنډولي اوبه څکلي دي۔ په کوم چې

دَ یو شاعر تنده ماتېږي نه بلکه لا سېوا کېږي۔

شعرکه یو طرف ته سړے د دې جوګه کوي چې د ې دې څه اوائي۔ په دغه څه ویلو کښې که هر څو سړے دَ خپل زړه تسکین هم کوي۔ خو بل طرف ته دَ شعر پېغام سړے تنهایئ ته هم نه پرېږدي او په څه نه څه چول یئ دَ درد او غم په څه نه څه رشته کښې انډول ساتي۔ او سَیال که یوطرف ته هم دَ دې لارې سړے دے نو بل طرف ته یئ دَ شعر دغه خواګه څکلې هم دي۔ ځکه نو دَ شعر سره دَده وابستګي تر عُمره عُمره بنکاري۔

سَیال دَ فکر و نظر د لحاظه یو ترقي‌لیسند قام‌پرست او دَ نن دور نمائنده ځلمې شاعر دے۔ ده په هغو ټولو مروجه اضافو طبع ازمائي کړې ده۔ کوم چې دَ نن دوَر دَ شاعرۍ دَ پاره روښانه او په زړه پورې میدانونه دي۔

سَیاله نظم۔ غزل او قطعه هم لیکلې ده۔ او سندرې هم۔ زما تر نظره دَ "ژوند جانان" دَ شاعرۍ په مقابله کښې ده پرې ټک وَخت کښې ډېر په مخ تګ کړې دے۔ خصوصاً په غزل کښې۔

دَ مثال په طور :

دې څوک نيازبين زما او ستا دَ وطن
دَ خپل وجود دَ سوزې شا ته ناست دي
دَ سپين سپېځلي روښ سحر ګلابه
دَ شوګيرو سترګې هم تا ته ناست دي

يا دا چې :

زما دَ کلي لبونې برښېده دي
زه دَ ننه ځان له جامې نه غواړمه
پښتون ځلمي له پښتنو جولو لـهٔ
يو له ګودر بل له حجره غواړمه

يا دا چې :

تا خو دَ خپل عمر په هر کمر کښې ګلاب اوکرل
مونږ له دې بارود زمونږ په عزونو کښې ساتلي دي
اور دې په جبين کښې تندرونه دې په سترګو کښې
څنګه حادثې دې په رنګونو کښې ساتلي دي

شاعر په خصوصيت سره نه يوازې خپل ورک شوي خوبونه او دَ هغې عکسونه دَ ورکېدو نه بچ کوي ولې په خپل شعر کښې ـ دَ عامو خلقو دَ ورک شوو خوبونو او خيالونو رنګونه هم ورګډوي ـ او چې کله دَ دغو رنګونو نه جوړ شعر

خلقو ته رارسي ـ لو هغوي په کښې خپل مخونه ليدے شي ـ او ځکه خلق شعرته ايينه هم وائي ـ

مونږ که د سيال د دغو ښکلو فني نمونو جاج واخلو ـ او بيا د نن دور په سياسي حالاتو نظر واچوکو ـ لو دده د ژوند سره د مينې او دده د بالغ نظرۍ او د فن د باريکۍ سره د اشنائۍ پته ترې په اسانه لګولے شو ـ

ننني صورت حال دومره پيچيده شوې او نازک شوې دے ـ چې هر شاعر چې هغه دې د غزل تقاضې هم پوره کړي او په غزل غوندې نازک بدنه او باريک مزاجه فن کښې دې د ژوند هغو لارو ته اشارې هم اوکړي ـ کومې چې ډيرو نظربازو خلقو ته هم ډيرې تتې تتې په نظر راځي ـ دا اسان کار نه دے ـ خو سيال د شعر زدکړه هم په يو داسې مکتب کښې کړې ده ـ چرته چې د دغسې خبرو او اشارو په شعر کښې د ځايولو ګنجائش هم وي او امکان هم ـ سيال قطعه هم ليکلې ده ـ او ډيره ښه يې ليکلې ده ـ د مثال په طور :

دا قطعه :

ستا دَ مستو سترګو اشاره غواړي
مینه مې هر وخت په غرغره غواړي
ما ورته دَ زړه کوډې نیولي دي
ګل وانه ګملهاو ګل دره غواړي

یا دا چې :

مونږ غریبانان مینَ
مینې لیونی لرو
لوړ که څه لرو که نه
درد دَ ژندګۍ لرو

یا دا چې ؛

خلقو پښتو اوخوړه ژوند یکې جوړ کړو
مونږ سره اوس هم دَ پښتو غم دې
زما همته چې زړه ماتي نه شو
صبا دَ سترګو ګلېدو غم دې

دَ سیال په قطعه کښې هم صرف دَ شعري تقاضو پوره کولو غم نه دې . بلکه پکښې یو داسې دردمند پیغام هم دې . دَ کوم دَ پاره چې نن زمونږ دَ خاورې خلق دَ خپل شاعر نه تقاضې هم کوي . او شاعر په دغسې وخت او حالاتو

کښې په دغسې کولو خپل فرض هم په ځائې ادا کوي۔ سَیال نظمونه هم لیکلي دي ۔ نظمونه یې ازاد کې چې ن ن صَبَا دَ ازاد نظم دَ پارَه هم لارې جوړې شوې دي۔ دَ دَه نظمونه دَ فکرونظر دَ لحاظه ډېر خواګه او ماړه نظمُونه دي۔ هَر نظم یې دَ لوستو نه پس په زړه او ذهن یوه نه یوه لار ضرور جوړوي۔ او سړے په څه نه څه فکر ضرُور مجبوروي ۔ او زما په خیال که یو نظم دومره کارګولي شي نو هُم دغه دَ هغې ښه ثبوت کېدے شي۔چې دا به ښه نظم وي۔ په دغو نظمونو کښې "زمَا پته" ، "دَ پښتونخوا غرُونه" ، "صنم" ، "آئیډیل" ، "برلوټے" ، "ادم زاد" ، "دَ تخیّل چینے" او دغسې نور ډېر نظمونه ۔ ډېرې ښې فن پارے دي ۔ "زمَا پته" کښې سَیال دَ اسلام آباد دَ رنګین ښار دَ رنګونو او لویو خلقو دَ ژوند ژواک یوه زبردسته حقیقي خاکه جوړه کړې ده ۔ او هم په دغه ژوند ژواک او رنګین ماحول کښې یې دَ خپل کورکلي او چم ګاونډ دَ بربنډو ماشومانو تصویرونه هُم جوړ کړې دي او په ډېر هُنر یې دَ تضاداتو په دغو لارو کښې دَ خپل کور پته هُم خودلې ده ۔ سَیال ټول عُمر هم دَدې تضاداتو

ختمولو دَ پارہ کار کړې دے ۔ او په خپل شعر کښې يې هُم دَ دغو تضاداتو افسوسناک دهشت طرف ته اشارې کړې دی، او خلقو ته هم په دې حواله دَ ټول ملک او وطن دَ تضاداتو ذکر کوي ۔ او دَ دې دَ ختمولو پوهه او شعُور ورېخښي ۔ او شائد دَ نظم مقصد او دَ ټولو نه لوئې کار هم دغه دے ۔ چې يو فنکار په خپله فن پاره کښې دَ خلقو دَ جمالياتي ذوق دَ پوره کولو سره سره دَ هغوي ضمير هم بيدار اوساتي ۔

"دَ پښتونخوا غروُنه!" کښې سَيال دَ شيشّنړ په غر نظم ليکلې دے ۔ چې دغه غر دَ شانګلې وراخوا دے ۔ دغه غر به ډېرو خلقو ليدلې وي ۔ او شائد سَيال چې دغلته په کومو کومو ځايونو ناسته کړې ده ۔ په دغو ځايونو زه هم ناستے يم او دَ دغو غرونو دَ سرونو او په دغه غرونو کښې دَ ليو يو کور دَ تنور دَ لوګي تماشه مې هم کړې ده ۔ خو شايد لکه دَ نورو خلقو زه هم دَ دغو غرونو نه زړه چاوَدې واپس راغلې يم ۔ دغې غرونو ته لکه چې يو فنکارانه نظر سَيال کړې دے سَيال پرې نظم کښې داسې تصوير پيش کوي ۔ چې که دَ دې نظم دَ لوستو نه پس څوک په هغو ګټو کيني او دَ دغې

غزلو او د دې د اوسېدونکو د ژوند ژواک جائزه اخلي لو د هغه د جائزې ټول کې به ورته د سیال دغه نظم پوره هم کړي او په کوته به یې هم کړي ورته . د هغې خوږ د اولو د شنزار او د هغې بنړولو د مرغو د چغار سیال دا؛ معنوي ګویایي پیدا کړې ده . چې د تماشګیر زړه او ذهن د رنګارنګ تصویرونو نه ډک شي . لکه چې وائي :

بنایست په دوي کښې ورک دې
دوي په بنایست کښې ورک دي
او زه په دواړو کښې ورک

د دغې منظرونو دغسې تصویرونه جوړول . چې هغه خبرې هم کوي د هرچا د وس کار نه دے . خو داسې بنکارې چې په سیال کښې اوس دغه فني هنر او د هغې د تصویرکولو توان بنه ډېر شوې دے . هم په دې نظم کښې دې وائي چې ماته د دغې خوږ د اولو موسیقیت او د مرغو دغه خوږې خبرې هم دغه احساس راکوي . او دغه ژوند راکوي بلکه د دنګو غزولو د څوکو په ژبه راته وائي . چې ته برته اوګوره :

دغه دَ هسکو غرولو
دا دنګې څوکې
چې دَ اسمان په اوګــو
ځان احپول غواړي

ته هم دَ دغو غرُولو
دَ دنګو څوکو په شان
دَ لوئي اسمان غېږه کښې
دا دَ سپوږمۍ په تندي
ځان له مقام جوړ کړه
ځان له وطن جوړ کړه

خو ښکلَه وطن !

دا سې ښاغلي وطن
دغه شان ښکلي وطن
لکه په زنه کښې خال
دَ پښتونخوا دَ غرُولو

سیال هم دَ دغې حُسن په حواله ، یو طرف ته که
دَخپل شعري ذوق دَ تندې ماتولو بندوبست کوي نو بل طرف
ته په دې حواله پښتنو ته په خپل وطن کښې دَ خپل وطن دَ
دغسې جوړولو لمسون هم کوي - چې جبین یئې دَ سپوږمۍ

په شان وي او د پښتونخوا په غرولو کښې داسې اوښکارېږي .لکه په زنه کښې خال !!

د غني د سیال په نورو نظمونو کښې هم خاګخا یو فني پیغام وي خوزه به د هغه "آدم زاد" نظم طرف ته راشم. هر څوک که د دې نظم لوستو نه پس شاید په دې نظم او لوهېږي او بنه نظم به هم ورته اوائي . خو زما تنده شاید په دې نه ماتېږي . ده د دې نظم اغاز په ډېره موثره طریقه کړې دے هغه داسې چې . وائي :

په لمن د مارګله کښې
چې زرګونه کاله تېر شول
او دا کلي د دلبرو
په دې سیمه کښې اباد وو

ګویا د نظم د اغاز په دوه څلورو مصرعو کښې هغه، د ټیکسلا د کنډرولو د تاریخ پوره احاطه کړې ده . نه یوازې یئې احاطه کړې ده . بلکه دغه ښارته یئې کلے او بیا کلي ته یئې د دلبرو کلي ویئلي دے . دا د هغو خلقو د ژوند ژواک او د هغوي د ثقافت او تهذیب د پاره د ښې پېرزوینې هغه خوا کله فني تکي دي . چې که یو طرف ته د هغوی د شان

مناسب دي - لو بل طرف ته دَ فن دَ سنګار دَ پاره هم ضروري دي - دغسې سيّال په يو ډېره ښکلې فني لاره په دې نظم کښې روان دے - او خلقو ته دَ خپل تاريخ دَ عظمت يادولو سره سره دا احساس هم ورکوي - چې دلته خلقو لوئيږه زندګی هم کړې ده - خلقو مينې هم کړې دي - دَ امَن دَ لارو پيروي او پيروکاري يې هم کړې ده -

او دَ دغه خوارې محنت او مشقت په اصل کښې زمونږ دَ پلارونو او نيکونو ميراث دے چې مونږ ته پاتې دے - دا کلي دَ دُنيا يرغلګرو - په بې دردئ وران کړې دے - او دَ دغه کلي تهذيب او ثقافت يې لتاړ کړې دے -

او هم په دې وجه زمونږ دَ ثقافتي ورثې دَ تاريخ او پر مخ تګ تسلسل مات کړې شوې دے - او زمونږ دَ ثقافت او تهذيب روانه وده په ټپه اودرولې شوې ده -

دَ ګوتم دغه روهستان - دَ تاريخ دغه دبستان - دَ دلبرو دغه مسکن - دَ سندرو دغه وطن نن خاموش دے - دَ ټولې دُنيا خلق يې پيژني چې دا دَ پښتنو تهذيب دے دَ ټولې دُنيا خلق راځي، دا په پښتنو پورې تړي او پښتانه ئکي دَ خپل

تهذیب او ثقافت دَ دغې خبرلوسې خاموشۍ نه تختي !! .

خو سَيال وايي چې ماته دَ دغې کلي خاموشۍ او دَ دغو غزونو خبرلوسو څوکو ګواهي راکړه چې دا کندرات دَ پښتنو میراث دے او سَیال هم دَغه پښتنو ته دَ ورحواله کولو هسه کوي .

دَ سَیال دا نظم دَ کړه وړه او پیغام دَ لحاظه ماته دَدې لوړ دَ لوړولو نه لویه او خوګه فن پاره ښکاري .

سَيال سَندرې هم لیکلي دي . ډېرې یې لیکلي دي، او ډېرې ښې یې لیکلي دي . ده که هر څو سَندره دَ ننني نوې سندرې دَ روح نه زده کړې ده . خو پخپلو سندرو کښې یې دَ پخوانۍ سندرې فطري حُسن هم ځائې کړې دے . او دَدې سره سره یې دَ ټپې دَ رنګ وجمال نه دَ پوره پوره استفادې کولو یو داسې کوشش هم کړې دے چې دَ ټپې دَ فطري بې ساختګۍ انداز نه یوازې پخپله سَندره کښې ځائې کړې بلکه نوې معنې هم پکښې پیدا کړې .

سَندره اګرچه دَ موسیقۍ نه بغیر لَشت نیمګړې ښکاري او په لوستو کښې سړي ته هغه خوند نه ورکوي . کوم چې دَدې په اوریدو کښې ورکوي . خو دَ سَیال سَندره سړے په

لوستو هم مجبوروي او يو خوند ترې اخستې شي ـ دا ځکه چې
که يو طرف ته دَ ده سندرې په مغه پيرايه کښې ليکلې شوې دي.
دَ کومې دَ انداز سره چې هر پښتون تقريباً اشنا وي ـ نو بل طرف
ته پکښې يو خيال يو منظر او يو پيغام هم وي ـ
زما په خيال دَ سيّال هره سندره دَ دې په ارمان ده
چې چرته دې سازونو ته ورغاړه باسلې شي ، او که داسې اوشي
نو دَ هر قسم اوريدونکي دَ جمالياتي ذوق کار کولې شي. دَ
سيّال په سندره کښې يوه "لے" يو موسيقيت موجود وي ـ
لکه چې دا سندره :

وه ياره نادانه ، رسوا چې نه شو
ملک دَ پښتو دے مينې خلق قتلوينه
رسوا چې نه شو

يا :
خدايه ما پانړې دَ ګلاب کړے ځم سنګرته ځمه
چې دَ جانان په غېږ کښې پانړې پانړې شمه
سنګر ته ځمه

دې سندرې له سيّال دَ بېلو بېلو تپو نه څه حصې
تراشلې دي ـ خو ده دغه حصې دَ سندرې په دې تصوير کښې

داسې په ځانګې ځانګې اېښې دي - چې نه یوازې لوښې معنې پیدا کوي - بلکه لوښې او تازه پیغام هم لري -

دا سندره فی الحال یو لوښي تعلیم یافته سندرغاړي - هارون بادشاه وئیلې هم ده - په ټیلیویژن یې هم وئیلې ده او په کیسټ کښې هم - او خلقو ډېره خوښه کړې او ستائلې هم ده - دې ته یې یو داسې حقیقي طرز پیدا کړې دے چې د زړو پښتو سندرو تنده هم ماتوي او د لوښې سندرې سیالي هم کوي -

هارون بادشاه - که یکه د ګلزار خپلو سترګو وا نه خستو - لو په راتلونکو وختونو کښې به د موسیقۍ په میدان هم دې ولاړ پاتې کېږي -

دغسې د سیال هره سندره د لوستو هم ده او د اورېدو هم - د ده په شاعرۍ لوړې خبرې هم امکان لري چې اوشي - خو خبره که د حد نه زیاتېږي لو د خوندې اوځي - ځکه لوزه به په اخره کښې دومره اوایم - چې سیال لا د شعر ویلو د پاره اوس هم هلک د ځلمي دے او مونږ ترې په راتلونکو وختونو کښې د دې نه هم د زیات ښه شعر لیکلو طمع کولې شو - د ده د مینې او جذبو په خاطر زما د زړه دا دعا هم خېژي چې په قول د رحمان بابا :

چې کشور د افغانانو معطر کړې ۞ د هر بیت مصرعې زلفې د خوبانو کړې

——— رحمت شاه سایل

# دَ سیال پېژندګلو

کله هم چې دَ یارانو په محفل کښې دَ سیال ذکر راغلے یا چرته ماته په تنهائۍ کښې سیال را په زړه شوے نو دَ ډېرو عکسونو سره یې مې دَ ذهن په پرده خوزېدلي راخوزېدلي دي او ګڼ شمېر واقعات مې په خیال کښې چورلېدلي دي. اکثر دَ علي اکبر سیال دَ ذکرِ خیر سره زما دَ سوچ نیلي دَ پښتون قام دَ ملي مبارز خان عمرا خان پله وګرځي. لوستونکي به حیران وي چې دَ یو فاقه مست انقلابي او دَ یو سترخان ترمینځه لا هم څه اړیکے کېدې شي. په یو اړخ عمرا خان، چې نه لښ فیوډال، بلکه یو مطلق العنان حکمران هم وو او په بل طرف علي اکبر سیال یو جاګیردار دښمنه او امریت ضد پرولتاري. بله دا چې دَ دواړو ترمینځه دَ پوره صدۍ فاصله غوړېدلې ده. خو لوستونکو ته دې معلومه وي چې دَ دغه دواړو غازیانو ترمینځه نه پرېکېدونکي رشتې وجود لري. رومبے خو دا چې دَ سیال ذیلي هم دَ جنډول په هغه خاوره کښې دي، کومې چې عمرا خان زیب ولي او په کومه چې بالتورخان دَ خپلې مېړاني بېرغونه ځلولي. دویمه دا چې سیال هم دَ هغه تورزني ترکلاني قبیلې وېښه ده کومه چې په خپل عمرا خان فخر کولې شي. او دریمه دا چې دواړو غازیانو په خپل خپل ځاې او په

خپل خپل وخت کښې ترخپله وسه د استعمار په ضد مبارزه خپله فرلضه ګڼلې او هیڅ رنګ سوداباز ته یې سر نه دی ټیټ کړی. کله چې خان عمراخان د غاصب فرنګي په ضد د ترکلالو غازیانو سرخیلي کوله، دغه وخت د سیال مشران د "افغان نپولین"[1] د پایه تخت باړه نه پنځه میله لرې د جندول د معیارو لوړې کلي کښې میشته وو. کوم چې په هغه وخت کښې د ریاست دیره د لویو نه لوئې کلي او لویه لویه تجارتي منډۍ وه. د سیال مشران د علاقې په صاحب جائیداد او صاحب حیثیت خلقو کښې شمېرلې شول. او ممکنه ده چې هغوي په د غزاګانو کښې د خان مرستیال پاتې وی او د هغه څنګ په څنګ جنګېدلې وي خو دا د هغه زمانې خبرې دي چې زمونږ زلمي شاعر لا د رنګ او بو په جهان کښې هستي نه لرله. هغه چې په رومبي ځل ستر ګې پرانستې لږ دا بت خیله وه چرته چې د قام، قبیلې، جائیداد او خاندان ښبنتن سیال بقول د هغه د کلي د کرلو زمکه هم نه لرله. د هغه د پیدائش نه اګاهو د سیال پلار نیکه خپل ټاټوبې پرېښې وو او د جندول نه یې د ملاکنډ خاورې ته هجرت کړې وو. د معیارو موروثي جائیداد تر ډېره موده د هغه د مشرانو په قبضه کښې وو خو ورسته پرې د

---

[1] : انګریزانو خان عمراخان ته د "افغان نپولین" خطاب ورکړې وو. د ده مزار په افغانستان کښې د جلال آباد سره نزدې په یو کلي کښې دې.

هغه خپل تره لاسونه پاک کړل او په ډېر چل ول یې اخوا دیخوا کړو. دغسې سیال ته په وراثت کښې لښه اقتصادي، محرومي او بدحالي پاتې شوه. دَ سیال انقلابي جذبه او نه ستړې کېدونکې مبارزه دَ دغه محرومو پیداوار وو.

زه دَ سیال دَ خانداني پس منظر نه خبر یَم او دَ معیارو جندول دَ زړو سپین رولونه مې دَ هغه دَ خاندان دَ عظمت اجداد قصې هم اورېدلي دي خو ما دغه ترکلاني زلمي تل دَ لو Self Made الشان په حیثیت پېژندلې دے. زمونږ یار ذاکر ایډوکیټ چې کله دَ Self Made انسان ذکر کوي لو هرو مرو دَ علي اکبر سیال حواله ورکوي او دغه مثال واقعي چې موزون دے. سیال بې شکه چې دَ لوړ اعتماد او نه ړنګېدونکې ایمان مالک دے او دَ هغه دغه اعتماد او په ځان یقین دَ نامساعدو حالاتو ږول او طوفان خوزولې نه شي. سیال په هغه کسانو کښې یو دے کوم خلق چې دَ غشو او ګولو په باران کښې خندلې شي او سندرې وئیلې شي، او هیڅ مشکلات او خطرات یې اعصاب خفه کولې نه شي. سیال همېشه په ژوند کښې دَ سنجیده کومټمنټ دَ مفهوم سره اشنا پاتې دے او په ځائې دَ کتابي مطالعې دَ هغه نظریاتو دَ عملي مبارزې نه رنړا موندلې ده.

ما سیال په رنګارنګ حالتونو کښې لیدلې دے او دغه هر یو ځانګړې حالت زه د هغه په ستائینه مجبور کړې یم. ما انقلابي سیال لیدلې دے کله چې به هغه لکه د روماني داستان د شهزاده د ښکلې شاپېرۍ په طلب کښې په تکنړه غرمه کښې لکه د لمبو سرو هلې برو هلې ګرځېدو او د جبر او امریت ځپېدو ستړو لې نه شو. ما هغه سیال هم لیدلې وو کله چې به د مازیګرې په وخت هغه د کالج په جامه د خپتې د تنور د کولو د پاره محنت مشقت خولې خولې کړو خو هغه کله هم د مډل کلاس نیوراسس ښکار نه شو. ما شاعر سیال په سپینه سپوږمۍ کښې په قامي سندرو انقلابي نظمونو او روماني غزلو وسیلو هم اورېدلې دے خو ما نه دې لیدلې چې د زماني ناکړدو یا د محبوب د هجر او فراق دردونو د هغه د شونډو نه مسکا شوکولې وي. نن هم د وخت جبر او ستونزو سیال د اشوب ذات او بیګانګي ذات په رنځ رنځور نه کړې شو او زه نن هم هغه غزلخوان وینم چې د لښتو په "یا قربان" د اسلام آباد الوالونه لړزوي.

خو د دې مطلب دا نه دے چې ګنې علي اکبر سیال هیڅ بشري کمزورې نه لري او یو پوره او مکمل انسان دے. د جذباتو پرېواني د هغه د کلو نه لویه خامي ده. خو یاران دا هر څه په سره سینه زغمي ځکه چې مونږ سیال پېژنو او ځکه چې سیال شاعر دے او جذبات د شاعر بنیادي وصف دے.

په درناوې :- سید عابد جان، خزانه (دیر)، ستمبر ۱۹۹۷ء

# ښو خبرې

زه دَ خپل ځان او خپلې شاعرۍ په حقله هيڅ وئيل نه غواړم ـ څه چې ووهغه محترم سائل صيب محترم اجمل صيب او ګران ملګري عابدجان ليکلې دي ـ خو دومره به ضرور اووايم چې ليکل او دَ ليکلې موادو چهاپ کول او هغې له کتابي شکل ورکول يو ښه صحتمند او مثبت عمل دے ـ

زه دَ پښتنو دَ قامي مشر جناب عبداللطيف افريدي جناب ممتاز علي خان ، جناب اختر زمان ختک ، جناب قربان علي خان او دَ پي ـ سي ـ اے دَ ملګرو طاهر خان ، نوشير خان محمد شعيب يوسفزي او طاهر ختک مننه کووم ـ دَ چا دَ ډېرې مينې او دادِ په نتيجه کښې چې دا کتاب چهاپ شو ـ

خدائ دې اوکړي چې " رڼکونه " دَ ګرانو لوستونکو طبعې ته پريوځي ـ او ما دَ راتلونکي وخت دَ پاره دَ خپلو خامو او کمزورو نه خبر کړي ـ

په مينه

سيال

# دعا

خدایه زخمونو له دوا غواړمه
یوه نیمګړې شان دعا غواړمه

ځان له یو نوم د پښتونخوا غواړمه
بل درته امن او بقا غواړمه

لږ مې د پرخې په شان یخ که تږه
د زړه ریګزار له مې ګیا غواړمه

ژوند له رنګونه د ښکلو د چمن
زړه له مې سترګې د بورا غواړمه

ما د زندان د هر قیدي وزر کړې
ماتې پنجرې ارته فضا غواړمه

پیوند پیوند چې کړم ټوټې د وطن
دې له یو دوه وختونه سا غواړمه

زه د نړۍ د هر مظلوم چیغه وې
درد په سینه کښې د دنیا غواړمه

سیالا زړه مې لکه آزاده مرغۍ
د لوګي په شان ادا غواړمه

PUKHTO.NET

# رنګونه

سپینې واورې دي که غرونه
نمر سپوږمۍ دي که ګلونه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

په دې ټول جهان د نور کښې
هر یو رنګ کوي خوندونه

خو په ټولو کښې ښایسته دي
د جانان د مخ رنګونه

○

غځ په نیمه شپه راوکه
په لمبو کښې به درځمه
په ګولو کښې به درځمه

که د خپلو اندلېښنو سره په جنګ شوې
که په خپله آئینه وجود کښې تنګ شوې
که د ستورو د رڼا نه دې زړه لوړ شو
تنهایئ که دې د زړه په وینو رنګ شوې

نو

غځ په نیمه شپه راوکه
په لمبو کښې به درځمه
په ګولو کښې به درځمه

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

که رنګونه دي په سرو سترګو کښې وراشو
که خالونه د جبین دي په لرزان شو
که دي ګل د شبنم بدن شو غني
که خوبونه دي د غېږې په ارمان شو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

نو

غېږ په نیمه شپه راوکه
په لمبو کښې به درځمه
په ګولو کښې به درځمه

که جذبې د پېغلتوب دې درته ژاړي
که بنګړي درنه شور غواړي مينه غواړي
که نکريزې دې په لاسو کښې اور اخلي
که دې سرې جامې په سرو لمبو کښې نغاړي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## لنډو

غږ په نيمه شپه را اوکه
په لمبو کښې به درځمه
په ګولو کښې به درځمه

که ژوند غواړې مینه غواړې وفا غواړې
که د لورو زلفو شپو له صبا ژاړې
که د سترګو د خولبولو دې په کار شوم
که سیال دې د نجونو په شپېول کښې نغاړې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

لنو

غږ په نیمه شپه راوکه
په لمبو کښې به د رحمه
په ګولو کښې به د رحمه

○

دَ ګل دَ خولې ازغي ته غک نه کوي
زړه مې دَ درد په لاړه ټک نه کوي

جبر تمام شو که همت مې بائیلو
دَ وینو دارې مې یو زګ نه کوي

نمکینې شونډې غواړه کله کله
دَ زړه زخمونه به دې زګ نه کوي

دَ بم ورین اسمان دَ مرګ له ویرې
دَ ګل درو ماشومان زوک نه کوي

یوه بوسه دَ باد څپه وه لاړه
سیالا نور خاطر دې ټک نه کوي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# آدم زاد

په لمن دَ مار کله کښې
په زرګونو کاله تېر شول
چې دا کلي دَ دِلبرو
په دې سيمه کښې اباد وو

PUKHTO.NET

دغه کلي نن کنډر دے
دلته هيڅ څوک نه اوسېږي
دَ تمامې نړۍ خلق
تماشې له راځيلېږي

يوه ورځ وه بختوره
زه هم دې کلي ته لاړم
ما سره وو بلها خلق
څه اشنا څه نااشنا وو
دَ دې کلي تماشې له
دَ يادونو اديرې له

ټول عالَم ټوټکي ټوټکي وګو
څوک لوازي څوک جوړه وګو
دَ يارانو دَ پوهانو
قِسما قِسم تبصرے وے
څه تازه وے څه زړے وے
جينکی هم هلکان وګو
هم سپين ږيري مشران وګو
څوک دَ چين څوک دَ جاپان وګو

PUKHTO.NET

راغونډ شوي وګو هم دے له
دَ خپل اصل تماشي له
دَ ګوتم په روهستان کښي
دَ تاريخ په دلبستان کښي
دَ دِلبرو په مسکن کښي
دَ سَندرو په وطن کښي
داسي جوړه خاموشي وه
تبره هېره زندګي وه
دَ کنډرو هَر لو کانړي
دَ ماضي قيصه ليدلي
خو دوي هيڅ ويلي نه شو
دوي ګونګيان وګو هسي غلي

خو دَ دې کلي دَ پاسه
چې کوم شين اسمان راخور دے
او دَ دې کلي په خوا کښې
چې کوم لوړ غرُونه پراته دي
دا اسمان او دغه غرُونه
چې پرُون هم وُو نن هم دي
چې دَ هر دَوَر ګواه دي
ماته دغه ګواهانو
دَ پرُون قيصه شروع کړه
وے يئ دا چې کنډرات دي
په کښې شور دَ انسان نشته
خو زړګونه کاله وړاندے
ډېر ښايسته ښايسته ښاغلي
دَ ګلونو نه هم ښکلي
په دې سيمه کښې اباد وُو
په دې کلي کښې ميشته وُو
دوي دَ امن پېروکار وُو
دوي دَ زړونو پامته دار وُو
دوي به مينے هم کولے
دوي به لټوقے هم کولے

PUKHTO.NET

دلته ښکلې جينکۍ وے
دلته ښکلي هلکان وُو
دلته رقص وُو خندا هم وه
ماشومان وُو ژړا هم وه
دلته ښکلي کودرونه
دَ يارانو محفلونه
په دې لارو دې کوڅو کښې
وُو رنګُونه بهارُونه
دَ دلبرو مسخرې وے
دَ رنګونو پلو شې وے
دا تهذيب وُو بے مثاله
پيښبنورۀ تر چترالـه
دغه کلې دا سې نه وُو
لکه اوس چې ښکـه ښار دے
دا مرکز دَ هنرونو
دَ صنم دَ تصويرونو
دلته ډېر لوئې لوهنتون وُو
دلته ښکلي روغتون وُو
دلته لويه زندګي وه
دلته لويه تماشه وه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

خو دا کلي چه نن وران دے
مُقبره ده ګورستان دے
دَ جنګي جُنون لښکرو
لو څو کسَو يرَ غلګرو
بے ضميره ستمګرو
دَ وختونو زورورو
دغه ټول تهذيب تباه کړو
لسني وسني کړو تاله کړو

خو دَ دي سيمي دا خلق
په دي غزُلو کښي پيدا وکو
هم دَ دي دشتو ښچي وکو
ډير ميئن وُو په دي غزُلو
دوي دَ امَن پيروکار وکو

دَ اسمانه بل غبرګ او شو
او په غرولو کښې هنګې شو
زما غوني په ما زنګ شو
وي ییځ دا هم ادم زاد وکړو
ګوره ته هم ادم زاد دے
او
" ادم زاد په معنی وارهٔ لو صورت دے
هر چي بل ازار وي هغه ازار شي "
( رحمان بابا )

---

یادګیرنه :- دا نظم دَ ټیکسلا سره نزدې د هغه کلي په کنډرا تو هغه وخت اولیکلې شو کله چي د اکادمی ادبیات پاکستان زیر انتظام دَ ادیبانو او دانشورانو د عالمي کانفرنس ( ۳۰ , نومبر تا ۳ دسمبر ۱۹۹۵ء ) د مندوبینو قافله دغه کنډرا تو ته دَ سیل د پاره بوتلے شوه چي پکښې تقریباً اته سوه ملکیان او غیر ملکیان مندوبینو شرکت کړے وو. د دَغه کانفرنس بنیادي موضوع وه :
" اَدَب، ثقافت او جمهوریت "
دا نظم دَ هغه مهذبه او بناپته خلقو سره دَ عقیدت په طور اولیکلې شو کوم چي دَ نن نه تقریباً دوې دریې نیم زره کاله اګاهو دَ ګندهارا آرټ او کلچر پامته دا وو۔

# درد

مُونږ غريبانان مېګن
مِينې لېونۍ لَرُو
لَوَر څه که لوُو که نه
درد دَ ژوندُن لرُو

PUKHTO.NET

○

پښې مې تنړاکې شوې نګاره
درسره نوره نه ځم
دَ محبت دَ دَرد په لاوړه

زهَ دې سنګې کړمه ارمان دې کړمه
ډولې ډولې دې نکړم
بنده دَ فکر په زندان دې کړمه
ډولې ډولې دې نکړم
شومه دَ زړه دَ رنځ بیماره
درسره لوره نه ځم
دَ محبت دَ دَرد په لاوړه

PUKHTO.NET

دَ ګل دَرو اوروُنه مړهٔ شوُ کنه
زړهٔ مې په تن کښې سوُزي
دَ وَطن غزوُنه مې سارهٔ شوُ کنه
زړهٔ مې په تن کښې سوُزي
لمبې مې خېژي دَ سِنګاره
درسَره لوُره نه ځم
دَ مُحبت دَ دَرد په لاوره

PUKHTO.NET

خلق بېغور کوي خبرې کوي
چې رنګ دې زيړ ولې شو
شکوُنه هم زما مُنکري کوي
چې رنګ دې زيړ ولې شو
په څه بلا يې ګرفتاره
درسَره لوُره نه ځم
دَ مُحبت دَ دَرد په لاوره

مینه دَ ترمو وینو دارېي غوارېي
زه په دې ښه پوهېږم
زړه دَ چېړو په سوکو لاړېي غوارېي
زه په دې ښه پوهېږم
چې دغه لار رسي تر دارۀ
درسره لوږه نه ځم
دَ محبت دَ درد په لاره

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ژوند مي ذرې دَ جنګ په وطن
په سرو لمبو کښې سوزې
زړه مي دَ وینې رنګ په وطن
په سرو لمبو کښې سوزې
وینې مي ځاڅي دَ پېرهاره
درسره لوږه نه ځم
دَ محبت دَ درد په لاره

زما غریب غریب ملنګ مینه
ماته خیرې اونکړې
په ځان دې منم هر قلنګ مینه
ماته خیرې اونکړې
ډېره یرګیږم د ازاره
درسره لوره نه ځم
د محبت د درد په لاره

تا وې د خپلو غرولو سیال یمه زه
ما درله مینه درکړه
تا وې پښتون یمه ننګیال یمه زه
ما درله مینه درکړه
خو تا سیالي اونکړه یاره
درسره لوره نه ځم
د محبت د درد په لاره

PUKHTO.NET

# سَحر (نثري نظم)

زمَا دَ ژوند، جدوجهد او ارمانونو نچوړ
بس دَغه دَ لوبږنوونکي تورې شپې
سپین سَحر دے
چې دَ تورو غزونو او خونړي دشتونو
په ذره ذره کښې
دَ مینې رنګ اوّ امَن رڼا خوره کړي

دَغه رُوڼ، سپین او سپیځلے سَحر
چې زما دَ ټول ژوند اوجدوجهد
دَ ارمانونو نچوړ دے
ما لا تر اوسه لیدلے نه دے
چې دا سحر به څنګه سَحر وي
او کله به راځي
خو کله کله مې دَ خوږ زړه دَ ارمان تنراکې
چې په جوبن کښې راشي
او دَ مستۍ نه ټک چوي زخمُونه سپړي
په ژوبلو ژوبلو غوټو غوټو شونډو
یو بل ته اوګوري، مُسکې غوندې شي
او دَ یو ګل او ټکور ټکور سَحر
په انتظار دَ ژوند لارې ساتي
همت نه بائیلي
او یقین کوي
چې یو داسې سَحر به خا مخا راځي
کوم چې بهٔ دَ مینې او امَن سَحر وي

# رقیبه

ته که مې هر څومره په مخ تورې ایږې رقیبه
زما د زړه نه درته نه اوځي څېړې رقیبه

دا بد دې خوي د رقابت نه، د الفت ګنړمه
زما په وینو که سمسورې شي مېږې رقیبه

دا چې هر کال کېږي اختر په مزارونو مېلې
په تا اباد دي د زړونو اديرې رقیبه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ځغه زما په نامه توره شوه تاوان شوه په ما
تاله د ګلو امیل دراوړم که څېرې رقیبه

ظالمه کور دې وړانه بنا یه په خبره د رحمه
ته بنیادم که ځناور یې که پېرې رقیبه

د لوی فکر، لوی تېغ د لوی ګل په خاطر
لږ خو مې اوشیندله په ژوند ذرې ذرې رقیبه

سیال د ژوند په بدل نه کوي سودا د بنایست
د ګل په لاړو کښې سنګینې که پېرې رقیبه

# تصویر

ستا د فکر انقلاب چې یې تقدیر شو
د پښتون زړه د ارمان زخم شوکیر شو
جادوګره ژبه را کړه چې ګویا شم
انتظار خومې په سترګو کښې تصویر شو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

یادګیرنه :- دغه وړوکې قطعه نما نظم به ۲۲ جون ۱۹۹۷ء په خوشحال میموریل لائبریرۍ هال اکوړې کښې په سیمینار "اجمل فن او شخصیت" کښې واوروله شو. د سیمینار مشر میلمه د صوبې وزیر اعلیٰ سردار مهتاب احمد خان وو. او صدارت یې ستر محقق عبدالله خدمتګار بختاني کولو. د دې سیمینار اهتمام مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګې، اکوړې کړے وو.

○

اے دَ ګلُ دَ حسُن اوره
دَ وږمو او لؤر سحره
زمَا زړه زما ځیګره

دَ ارمَان دَ درد ټکوره
دَ رنګونو حبَا دوګره
زما زړه زما ځیګره

ته مستي دَ بهارونو
ته دَ ژوند دَ زړه نبضونه
ته خوږي اوبه دَ غرونو
ته په واورو کښي اورونه
اے دَ سینه دَ چپو شوره
دَ جذبو دَ ژوند ګودره
زمَا زړه زمَا ځیګره

PUKHTO.NET

پېغلې پېغلې ولولې دي
ستا د حسن په دنيا کښې
د ځوانۍ د جوش لښې دي
ستا د سترګو په خندا کښې
اې د ژوند د مستۍ کوره
ته سازونه ته سندره
زما زړه زما ځيګره

PUKHTO.NET

چې ته نه يې په کتو مې
تاؤ د غنورانه شپول شي
ستا په يو نظر ليدو مې
لټسني وسني زړه راټول شي
د بېلتون د غم د زوره
څوک خبر مه شه دلبره
زما زړه زما ځيګره

دا یو څو ورځې ژوندون دے
دا یو څو ورځې ځواني ده
بیا خو ټول عمر بېلتون دے
بیا خو لویه جُدائي ده
واخله غېږه مې سمسوره
دَ ارمان کړوند کره
زما زړه زما ځیګره

رنګ دې لوړ په غوټومه شه
خال دې توږ په لمبومه شه
وار دې تېر دَ ځوانۍ مه شه
شرنګ دې ورک دَ بنګړو مه شه
دَ سیال دَ سترګو توره
دَ سیال دَ زړګي سره
زما زړه زما ځیګره

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

# دَ تخیّل چینې

دَ سپرلي لټول ګلونه
هُم دَ خزان رنګونه
دَردونه خوږکي چیغې
دَ ژوند نغمې سازونه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دَ محبت سندرې
دَ بغاوت خبرې
دا دے مظهر دَ تهذیب
دا دَ انسان وزرې

دا غلامي دَ شعور
دا دَ بدلون چپې دي
دَ ژوند په هر وجود کښې
دَ تخیّل چینې دي

○

تا دَ انګو په بَهارونو کښې ساتلي دي
دا دَ خشم اوروُنه په ګلونو کښې ساتلي دي

اور دې په جبين کښې تندرونه دې په سترګو کښې
څنګه حادثې دې په رنګونو کښې ساتلي دي

خُدائے خومے دې دَغه حادثې دروند ملګري کړي
تا چې دَ نظر په تندرونو کښې ساتلي دي

غيږو غيږو زلفو ته دې اووايه خورے نه شي
خلقو ليونی په زنځيرونو کښې ساتلي دي

ستا دَ ياد خوارږه لکه دَ شونډو دَ لوږے په رنګ
ما دَ خپل ځيګر په پرهرونو کښې ساتلي دي

تا خو دَ خپل غرږ په هر کمر کښې ګلاب اوکرل
موږ له دې بارود زموږ په غرونو کښې ساتلي دي

# صَنم

هَغه دوه بلورې سترګې
سَاد ګلانې او ناجانړې
هَغه دنګه دَ غزه سُوکه
تا تره غړې دَ زانړې
هَغه نرمې نرۍ شونډې
لکه سَرې دَ ګلو پاڼې

زه که ئې بیا بیا هیروَمه
ماته بیا بیا را یادیږي
زه که سَترګې غړوَمه
دَ نظر نه مې تاویږي
او که سَترګې پټوَمه
په سِینه کښې مې اوسیږي

لویه خدایه لویه خدایه
دَ غه بُت مے په سِینه کښې
دَ مُودو مُودو نه پروت دے
دَ ځیګر په آئینه کښې

دا زما ځیګر ځیګر دے
که جُمات دے که مندر دے
دا دَ چا صنم کده ده
دا دَ چا دَ فکر وَر دے

زما ربه زما خدایه
دَ غه کفر که اسلام دے
دا ګناه ده که ثواب دے
ګمراهي ده که امام دے

چه صنم ساتم په زړه کښې
چه رنړا لرم په زړه کښې

# دَ پټ نشه

زه يې که مَسَت کړے يم دَ پټ په نشه
ښه ده دَ هر هر څه نه ښه مَلنګي

دَ تخت او تاج په بَدل نه ورکوم
دَ جانان خُله او دَ خپل زړه مَلنګي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

نه فکر د حرم وي او نه خيال د بُت خانې
بس ژوند وي او جانان
يو زه وي ليونې او بل مې زړه وي ليونې
بس ژوند وي او جانان

د ژوند په تورو تورو ماښامو لو کښې ځليږي
ډيوې دې چې بليږي
بڅرکي د خمار چې دي د سترګو نه ورېږي
رنګونه دې خورېږي
نه ټول عمر ژوندون وي نه د مينې يو خوشې
يو زه وي ليونې او بل مې زړه وي ليونې
بس ژوند وي او جانان

غنچې غنچې مخونه د يارانو محفلونه
ارمان چې بېلتون نه وي
مستي وي خندا کانې سرودونه او رقصونه
نيمګړې ژوندون نه وي
اباده تر ابده دا دُنيا وي د مزې
يو زه وي ليونې او بل مې زړه وي ليونې
بس ژوند وي او جانان

احساس د محبت مې په ګلونو کښې سره وينه
په ټول تن کښې خوره وي
ځلا د يار د سترګو د رنګونو نه رنګينه
د ستورو سره دره وي
تاؤ کړې را نه غېږ وي د رنګونو پلوشې
يو زړه وي لېونی او بل مې زړه وي لېونی
بس ژوند وي او جانان

PUKHTOON.NET

بې ټوله ارزوګانې د ارمان د کور قېدي يم
نه ژوند شته نه جانان
زړه ماته ګوته نيسي زه په زړه باندې شکي يم
نه ژوند شته نه جانان
عبث مو هسې ستړې کړې دالارې د کوڅې
يو زړه وي لېونی او بل مې زړه وي لېونی
بس ژوند وي او جانان

دَ خیال په لَمه زمکه دَ ګلُونو کَرَ کوومه
اے سَیالو که سَپړلے شي
دَ مِیني دَ وَفا دَ امیُدونو کَرَ کوومه
اے سَیالو که سَپړلے شي
نال کړمے مي په زړه کښي دي لوږي پخواني
یو زه وړے لیوني او بل مي زړه وړے لیوني
بس ژوند وړے او ځانان

PUKHTO.NET

زړګیه ته یې غوټې ژوند دَ ارمانونو
دا دوَر دَ دې نه دے
سَیالو ته هُم دغه شان مُدام په تیندګونو
دا دوَر دَ دې نه دے
بنا ئیست په کوړ لوړه دے نه تا غواړي نه زړې
یو زه وړے لیوني او بل مي زړه وړے لیوني
بس ژوند وړے او ځانان

# بړتوئے

دَ اسمان زړه چه دَ غُصے نه ډک شی
لوخړپل شِین مخ کړی په وریځو کښے پټ
زمونږ په کلی دَ وطن په غرُولو
دَ قیامتونو باران اووَروی
چرَته بَلی چرَته طوفان راولی
چرَته په سپِینو واوُرو غرونه پټ کړی

اوبیا بے سترګو ستمګره سِیلئ
دا سے په منډه منډه زغلی په شغ
چه غرُونه هم رَلوی
او زړُونه هم رَلوی
خلق ګړګوزے وهی
په مخ کښے لاړے کوی

PUKHTO.NET
پښتو ادب دنیا

زمونږ د کلي او د غرونو مينځ کښې
په ميداني زمکه د پروړو توپکي
د لوى فصل د دالو څوکې ته
د برتو يالو بچي
د دهقانانو ځوانه
په دې ټوپکو کښې اوسي
د خپلې برخې د دالو په خاطر
د روڼ صبا په اميد
څوک د ډولۍ څوک د واده په ارمان
څوک د ډوډۍ د پاره

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نيټ

د خدائے د زمکې په دې لويه سينه
د دغه پروړو د ټوپکو په کور کښې
صبا بېګاه اړوي
او د اسويلو لوګي لوخړے
د دوى د ځوندورځے او شپے ګرموي

دَ اسمان زړه چه دَ غُصے نه ډک شی
لوخپل شین مخ کړی په ورېځو کښے پټ
دَ قیامتونو باران اووروی
خپله غصه په برلوټو لوکړی خړه

اوبه، سپړلے او سپینے یخے واورے
دا دَ جَنت دَ رنګینو نخښے دی
خو څوک په دا سے رنګینو څه کوی
چرته انسان چه وی په خیټه نهر
ارمان زمونږه په ښایسته وطن کښے
دَ لوږو تندو بدرنګی چه نه وے

---

یادګیرنه : په خوابه دَ ژمی په موسم کښے دَ سوات، دیر
او بونیر خلق چه زمونږ کلی بتے خیلے ته راکوز
شول، لوز دَ سینډ په غاړه به ابادو زمکو کښے به
ئے ځان له دَ پړو و لټو یکی جوړ کړل او تر څه
وخته پورے به په هغے کښے اوُسیدل۔ دغه
خلقو ته به "برلوټیان" ویُلے شول۔ دوی به دَ
فصلونو دَ سنبهالولو کار کولو۔

PUKHTO.NET

○

مَا دَ لیونتوب دَ حَدْ نه واړوه
یَه جانانه دوه سترګي راواړوه

مَا دي دَ سنګهار په خوږو موړ کړه نن
ځان دي په زړو جامو کښي جوړ کړه نن

خُلي دَ پرهرولو جي مي اوسيږي
اوَر راله دَ ټکو سترګو سوړ کړه نن

لږ خو مي دَ غم نه نظر واړوه
يه جانانه دوه سترګي راواړوه

PAKHTO.NET
پښتو ګاټ نیټ

یاره چې رنګونه دې پېکه نه شي
اور په اننګو کښې دې اوده نه شي
مَه برندوه سترګې مېینالو ته دے
مَات چې دې کاږه واږه بانړه نه شي

ښکلیه دا عادت دَ ځانه واړوه
یَه جانانه دوه سترګې را واړوه

مَا چې پرې دَ زړه دُنیا بائیللې وه
دا دَ کوه قاف دَ وَطن ښکلې وه
نرمې نرې شَونډے وَړه خُله غوټۍ
ګُل مې په زړګي کښې غوړیدلې وه

غَټې غټې سترګې دنګه غاړه وه
یه جانانه دوه سترګې را واړوه

○

ګل یې نن په ګوتو کښې نیولې وو
هر نظر یې ځان ته راړولې وو
سرې ګلابي سترګې خمارې ادا
مخ یې په رنګونو کښې نغاړلې وو

PUKHTO.NET

ورکه په خیالونو کښې واوره وه
په جانانه دوه سترګې راواړوه

یاره لږ دې اور په جبین بل کړه ته
ما په کښې لمبه کړه ته جل بل کړه ته
زړه مې د بڼړو په غشو اوپیړه
درد راله په څریکو کښې بدل کړه ته

هسې هم زموږ دُنیا لتاړوه
په جانانه دوه سترګې راواړوه

فکر دې په ستړګو کښې اوده کړه لږ
یاد د محبت دې را تازه کړه لږ
ګورې ګورې وګڼې د بڼو سورې ـ ـ ـ څ
مغه تېر وختونه را په زړه کړه لږ

مستې هواګانې د سیند غاړه وه
په جانانه دوه ستړګې راواړوه

روغ یم که رنځور که لېوني ښنه یم
پروت یم چې په خوا کښې د چینې ښیم
زه د خپل ارمان د کوره نه اوځم
زه د خپلو غرولو غرځنې ښنه یم

ما مې د سیال وطن نه ماړوه
په جانانه دوه ستړګې راواړوه

# آئیډیل

چې دې ذهن مطمئن کړي

او د زړه ګرمي کړي پخه

ترنګ پیدا کړي په جذبو کښې

سترګې کړي په ځان مینې

د جانان دے د جمال دے

لاثاني دے بے مثال دے

PUKHTO.NET

# پښتو

خلقو پښتو او خوړه ژوند ئے جوړ کړو
مونږ سره اوس هم دَ پښتو غم دے
زما همت چه زړه ماتې نه شو
صبا دَ سترګو لګیدو غم دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

د بنګو څاڅکي دي د سترګو نه راڅاسي
په زړه کرښي اوباسي
رنګونه خمارونه

د بنګو څاڅکي دي د سترګو اوري
ژوند له مستي ورکوي
په زړه څکونه لګوي راګوري
ژوند له مستي ورکوي
په هر ځيګر د نظر غشي ننباسي

د ګل ګل خلقو ګل بدنه خندا
په زړه کښي لاري کوي
په طرس کتل مسته مينه خندا
په زړه کښي لاري کوي
مين د لري نه د زړه په ټول کښباسي

PEKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دا د غضب ډکې خمارې سترګې
حملې په زړونو کوي
سنګين سنګين بانړه خونکارې سترګې
حملې په زړونو کوي
د ژوند د برمه نه ساده خلق پرېباسي

زما ساده زما شاغلي ارمان
سيالو مينه غواړي
په هره لاو رقيب رټلي ارمان
سيالو مينه غواړي
د ځيګر تنده مې لمبو ته غاړه باسي
په زړه کرښې اوباسي
رنګونه نښارونه

PUKHTO.NET

# زما پته

ملګرو زه اسلام آباد کښې اوسم
زما د کور پته په زړه اولیکئ
که چرته راغلئ نو دا یاد اولرئ
زه د ګلونو د رنګونو ښار کښې
د ډنګو ډنګو محلونو سره
د اقتدار د خاوندانو خوا کښې
په ځان مینو افسرانو خوا کښې

نه نه غلط شوم دغه ټول به پرېږدئ
د محلونو د رنګونو د بادارو کوڅې
د دغه ډنګو محلونو نه ور بېرته اخوا
هلته یو تنګه شان کوڅه ده خو کچه کوڅه ده
هلته کښې هغه یو کار بے لارې خوا وبه په لار دی

دُغه دَ ختو او دَ دوړو ډکه لار اُونيسئ
چُرته به مخے له يو ښو خوارږه خوارږه ماشومان
خيرن خيچن خو لُښتانه ماشومان
دوی به په دے کوڅه کښے لوبے کوی
دوی به خبرے په پښتو کښے کوی
دَ چا په پښتو کښے به پيزار هم نه وی
څوک به په سر سړ لوڅ وی
دَ چا جامے شلیدلے

PUKHTO.NET
پښتو داب نیټ

دَ چا په غاړه کښے صَندق به پروت وی
څوک په ډيران به گرځی
څوک به چړيږی او کاغذونه ټولی
دَغه تنکی تنکی روحونه گلالی ماشومان
دَخوشحال خان، دَ فريدخان او ابدالی بچوړی
دَخپل ماضی او مستقبل نه بے خبره نسل

ځَړته چه د اسے ماشومان اُوويني
بس مخکښے مه ځئ دَ هغوى نه به تپوس اوکړے
زمَا دَ نوم زمَا دَ کور زمَا دَ پتے تپوس

دَغه واړه خيرن خيرن خو ښايسته ماشومان
لکه دَ پلوَرنيکه په رنګ ميلمه پرست ماشومان
دوی به په ډيره مينه
په نيمه ژوبله خندا
زما تر کوره پورے
زما تر ځايه پورے
ماته رااوُرسوی

PUKHTO.NET

ملګرو زه اسلام آباد کښې اوسم
دَ بنایستونو او رنګونو ښار کښې
دَ ډنګو ډنګو محلونو ښار کښې
دَ خدائے راکړې مملکتِ پاکستان سِینه کښې
په خدائے رسُول اسلام پسند وښار کښې
دَ مسَاوالو دَ جمهور دَ پاسدارانو ښار کښې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ستاسو ملګرے سَیال
او همه نور لیښتانه
دَ بے حِسئ او بے وسئ په وجه
دَ غلته ژوند تیروی
دَ غم شان ژوند تیروی

# قطعه

زړه مې د زلفو په تارونو تړي
خپل ليونى په ځنځيرونو تړي
خدايه خودې سترګې کړې رندو د زاهد
سترګې د فکر د رنګونو تړي

PUKHTO.NET

○

دا چې فکرونه پښتانه لرمه
لکه شعور د ژوندانه لرمه

زما وطن د مېږو کور مه ګڼې
زه چې په دښتو کښې شیا نه لرمه

PUKHTO.NET

نمر او سپوږمۍ چې په ولو وړکښې غواړي
د دې ادا طاقت دې نه لرمه

د مینې هر قاتل په کاڼو ولم
دا یو عادت د لیوانه لرمه

رنګ د رنځو زړه بنجارې د کوڅو
دا دوه خویونه جانانه لرمه

# دَ پښتونخوا غرونه

دا دَ شیشنړ غرَ دے
دَ لیلونئ نه برۀ
دَ شانګله پار په غېږ کښے
دَ سوات په ښکلې سینه
دَ هسکو هسکو غرونو
دَ دنګو دنګو ونو
یوۀ وادی دَ ښائیست
یوۀ ثانی دَ ښائیست
په لوړو لوړو غرونو
دا سپینے سپینے واورے
شنزار دَ خوږ دَ اوبو
چغار دَ ښږ دَ مرغو
ښائیست په دوئ کښے ورک دے
دوئ په ښائیست کښے ورک دی
او زۀ په دواړو کښے ورک

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

دَ يوَے گټے په سَر
ناست يَم فکرونو ورے
لږے مے سترګے ترخے
په دے خوږو مړَوم
کله په ځان کښے ورک شم
کله په دوئ کښے ورک شم
څومره ښائسته خاموشي
څومره خوږه شورونه
دا دَ مرغو په ژبه
خوږه خوږه موسيقي
زمَا دَ زړه او ذهن
دَ روح تارونه چيړي
په ما کښے ژوند پوکوي
ما ته سَندرے وائي
وائي لږ اوګوره پاس

PUKHTO.NET

دغه دَ هسکو غرونو
دا دنګې دنګې څوکې
چې دَ اسمان په اوګو
ځان اچول غواړي
ته هم دَ دغه غرونو
دَ دنګو څوکو په شان
دَ لوړې اسمان په غیږ کښې
دا دَ سپوږمۍ په تندي
ځان له مقام جوړ که
ځان له وطن جوړ که

داسې ښاغلے وطن
دغه شان ښکلے وطن
لکه په زړه کښې خال
دَ پښتونخوا دَ غرونو

PUKHTO.NET

# اِقرارِ جُرم

دَ قلم دَ حُرمت خیال رانه زخمي شو
پهٔ دې ښار کښې خپل ضمیر رانه باغي شو
دَ خپل جُرم دَ اقرار سزا مې دا ده
کهٔ احساس مې عمر قید کهٔ، تېزندي شو

## دَ ډاکټر تاج، سرفراز محمود، نصیر خیام

## او امان الحق په یاد کښې :-

زمَا دَ وینې وینې فکر دَ نظر ملګرې
دَ سَرو ګلونو دَ سپرلو کروند ګر ملګرې

PUKHTO.NET

زمَا دَ دېر او دَ کوهاټ دَ اشنغر ملګرې
دَ درد په کومې کښې بندې دې دَ محشر ملګرې

ستاسو دَ قبر خاورې نه یادوې نه مرځې څوک
دَ وخت په لورو قیصو سَر دې دَ لښکر ملګرې

زمَا نه هم نه کیږې لوره دَ دردونو څوکې
په پرهرونو کښې اوده دې دَ سنګر ملګرې

زمَا ملګرو کفنونه که شلوې شي راشي
ستاسو خلوص به کړې راجمع دَ ربه دَ ملګرې

○

خدایه ما پاڼړے دَ ګلاب کړے
څم سنګرته ځمه
چې دَ جانان په غیږ کښې پاڼړې پاڼړې شمه
سنګر ته ځمه

PUKHTO.NET

جنګ چې دَ مینې دَ وطن وي په سر
دا لوپټه به مې کفن وي په سر
یار به مې خفګان نه کړي
تر نیمایئ مورچے چې زه ورسرځمه
سنګر ته ځمه

زمَا وطن زمَا دَ سر پړونے
زمَا ښایست زمَا دَ غرولو ونے
زه به وطن حپاته پرے نه ږدم
لکه مرغۍ په غنو ښپے ورته کوومه
سنګر ته ځمه

د درد خوارہ او د دیدن خبرې
د مینې کور د محبت سندرې
د بنړو شپول به ترې چاپېر کړمه
د جانان مینه به په سترګو کښې ساتمه
سنګر ته ځمه

PUKHTO.NET

دا پښتونخوا د هسکو غرونو وطن
د ننګ او پت د عظمتونو وطن
یار به پردي ملک ته پرې نه ږدم
ورته پېزوان د مارګلي په ګڼو ږدمه
سنګر ته ځمه

د محبت د آزادۍ په خاطر
د خپلې خاورې د سیالۍ په خاطر
زه پرې د خپلې ځوانۍ تېرېږم
سیالا وینې د ارمان په مخ شیندمه
سنګر ته ځمه

# زما د وطن لاري

شاید چي مسکیتوب دي د نازبینو مستو سترګو
په ترمو ترمو اوښکو کښې بدل شي
شاید چي سره جوړه بنارسي د ناوېتوب دي
په سرو وینو کښي سره شي
شاید چي ستا ورېښم ورېښم نازک نازک لاسونه
زخمي په خنډ و خار شي
شاید چي ستا د پښو د پازېبونو اوازونه
لوچغه شي فریاد شي
لو
محبوبې ستا رضا ده اوس که ځي که پاتي کیږې
زما د وطن لاري څه غمګیني غونډي دي

○

زما زړه دَ غم په سَر دَ ختو نه دے
دَ حالاتو په سنګر دَ ختو نه دے

زه پښتون يم، ميړنی يمه، جنګباز يم
خو اسمان ته مې نظر دَ ختو نه دے

څه چې ستړي ځان له اوګنډو او ده شو
انتظاره دغه نمر دَ ختو نه دے

دا مريض دَ يويشتمې صدۍ شوک دے
دَ سپوږمۍ اوږو ته بَر دَ ختو نه دے .

دَ چنار چنار ځوانئ بلا دې واخلم
ستا نګار خو دَ انزر دَ ختو نه دے

زړه مې مَینه بلها غواړي خو ماشوم دے
دَ خوږو زلفو به عمر دَ ختو نه دے

سیال[۱] سیال دے خوشحال نه دے ملاکنه
په دې لار په دې ګودر دَ ختو نه دے

---

[۱] په دا لار دَ شهسوارو ختل ګران دي
ګوره څو به باندې خیژي ملاکنه دے
(خوشحال خان خټک)

# امامت

يَوَ پهٔ زړه کښې مې جَذبهٔ دَ محبت ده
بَلَ پهٔ سر کښې مې نَشَهٔ دَ قام دَ يت ده
زهٔ ارمَان دَ پير روښان او خوشحال خان يم
پهٔ تندې کښې مې رڼرا دَ امامت ده

PUKHTO.NET

# پوسترشخصیت

زمونږ د مينې د وطن څه عجيبه تاريخ دے
چې کله کله داسې جونه او ځوانان زيګوي
چې شخصيت يې ناپ کېدلې نه شي
لکه د غرونو ناپ او تول نه کېږي

PUKHTO.NET

کله د حسن د رنګونو نه نغمه پيدا کړي
کله د ټمګر د پلوشو نه بناپيرې جوړه کړي
داسې په سر او ساز نغاړلې نغمه
د بناپيرو د کاروان ميړه نغمه

لکه د مينې او د امن شپيلۍ
د کوه قاف د دنګو غرونو زرکه
لکه چينار چنار ځواني د کشمير
د ملالۍ د انغرې بخرې

جاري...

دَ میړنې وَطن سنګینه ځوانې
دَ پت پلو دَ ننګ جامو کښې پټه
دَ اور بڅرې یئې له سترګو دانګې
سِنګار دَ فن او دَ پښتو دَ فرهنګ
دَ زړه دَ وینو په رنګولو کوې

په وینو وینو غوځو غوځو شونډو
دَ ژوبل شوو ارمانونو څرېکې
دَ نرې سترې غم زړَپلې خلق
دَ زړه دَ سوز او دَ اوازبه خوږو
داسې قلار ټکور ټکور کړې
چې دَ ژوندون دَ غم نه ډک سفر ته
دَ لوې سر نه بیا تازه تازه شې
لو داسې لوړ، دنګ او بناغلې خلق
زمونږه خاوره همیشه زیګوی
چې شخصیت یئې ناپ کیدلې نه شې
لکه دَ غرونو ناپ او تول نه کیږي

○

دا ګرېوان دے که تارونه دَ ځيګر دي
ما تړلي پرې زخمونه دَ ځيګر دي

يارہ زار دې دَ بڼو دَ سنګينونو
وارخطا مې ارمانونه دَ ځيګر دي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دَ سپرلي دَ پېغلتوب خوشبو تړې نه ځي
غنچه کړې دې ګلونه دَ ځيګر دي

اوس چې څوک په انتظار وينم بوږنېږم
ما لېدلي عزابونه دَ ځيګر دي

دَ احساس دَ لمبو تاؤ سره پاګل کړي
په سيال کښې که رنځونه دَ ځيګر دي

○

دا دې په کومه ګناه واړولم
اوس یې په چل او په ول نه پوهېږم
زړه څه په لویه سزا واړولم
راځي به کله اجل نه پوهېږم

PUKHTO.NET

زما د ژوند د ارمانونو دنیا
زړګیه تا په کوم ګودر لاهو کړه
زما د سترګو د خوبونو دنیا
تا د وحشت په سمندر لاهو کړه
په ځیګر خون دې اشنا واړولم
اوس مې په سوي ګوګل نه پوهېږم

مېينه ده خو آسان کار دې صنم
ولې دَ مِينې پټه پالل ګران دي
جانان خو ټول خمار دې صنم
خُله په جامُونو ټکول ګران دي
نشه نشه دې په شا واړولم
دَ اودرېدلو په ځل نه پوهېږم

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

ښاغلي ښکلي په ډلو ډلو دي
خوشوک په داسې ښاپېرو څه کوي
مېنان واره په ګلو ګلو دي
په سنګارونو به نخرو څه کوي
بند دي دَ دَرد په قلا واړولم
هيڅ په منزل او مَزل نه پوهېږم

دَ نکریزې لاسولو سرې منګلے
بنه شوه چې ستا په سینه خخے شولے
دا دَ غضب سترګې په اور لړلے
په ترمو وینو اښې دې ییخے شولے
تا په قاتله ادا وارولم
دَ زړه دَ درد په غزل نه پوهیږم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

سیالا زړه دَ ښایستونو سنګار
دَ زړه دَ لول په ترانو اخته کړم
دَ مستو سترګو دَ رنګونو خمار
په رکوکودر دَ میخانو اخته کړم
مینې په داسې خطا وارولم
دَ ژوند کولو په چل نه پوهیږم

○

دَ ګلونو دَ رنګونو نه جُدا شوم
ستا دَ خیال دَ نظر پر یوم فنا شوم

یاره ځار دې دَ بڼو دَ سنګینونو
زه دَ خپل زړګي پرهر ته په خندا شوم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دا لښکر لښکر باڼه دې خاورې مړ شم
دَ زړه دَرد له ستا ستم ته په دُعا شوم

اوس چې څوک لوازې وینمه بوږنیږم
بلا ګانې را نه تاؤ شوې چې تنها شوم

دَ وصال جذبې مې موج وهي په تن کښې
لکه ناوې که په خُله چپه چپیا شوم

# بې حِسي

دَ محبت ذيلې چا اوريدلې
که دَ ښايست دا اور لمبه خړه شوه
زړه مې دَ درد په لاره ټک نه کوي

PUKHTO.NET

په دې بدنام کلي کښې چا ته ناست دې
خلق خو ستا د مخ حیا ته ناست دې

PUKHTO.NET

د زولنو سره هم مینه کوې
د جانانه ښکلو شرنګا ته ناست دې

دې شوک نازبین زما او ستا د وطن
د خپل وجود د سورې شاته ناست دې

د سپین سپېځلي روڼ سحر ګلابه
د شوګیرو سترګې هم تا ته ناست دې

د درد په ښاخونو کښې مارغان د وطن
د لوبي تيغ لوي ادا ته ناست دي

ستا د خمار خمار ځوانۍ خوبونه
د زړه په سترګو کښې مې خوا ته ناست دي

زما د غرُولو د وطن شهزادګان
د غم د اوښکو کربلا ته ناست دي

د وخت ستم په زړه داغلي خلق
د خال د زنې مشغولا ته ناست دي

# رانجه ارزان
# شوې

مَا دَ حالاتو دَ دوَزخ په لمبوکې

دَ بنجاري زړه دَ ارمَان په غوږکې

دَ خپل احساس ځواني اوره اوره کړه

جانانه اوس خو باني مه جوړوه

اخر پښتون یې بې لوظي مه کوه

ځان دې سَنبال که په زړو جاموکښې

سترګې دې توري که رانجه ارزان شو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

(۵)

څوک چې حسن لوټونه هم لیدے نه شي
وینې وینې زړونه هم لیدے نه شي

زړه دے اخر او به چوي د زړه سره
ټول عمر نازونه هم لئیدے نه شي

مونږ چې څومره مست یو په نشه د پت
خلق یئې خوبونه هم لئیدے نه شي

دا نا ترسه خلق مینه هم مني
یو چې شي دوه زړونه هم لیدے نه شي

ستا د مسکیتوب نه ګله من یمه
اوس مې پرهرونه هم لئیدے نه شي

کاڼي دي سیالا که بتڼي دي
سترګې دې رنګونه هم لیدے نه شي

PUKHTO.NET

○

وه یاره نادانه رسوا چې نه شو
ملک د پښتو دے مېنځ خلق قتلوینه
رسوا چې نه شو

مونږ ه په داسې خاوره ژوند تېروو
چرته چې مېنه د فساد لوم دے
مونږه د داسې روایاتو پابند
چرته چې مېنه د الحاد لوم دے
په دې ګناه دوه مېنان سنګساروینه

زمونږ د کلي د وطن واکداران
د بې حسۍ د خوبه نه پاسېږي
دلته جذبې لکه د زهرو ترخې
د محبت په خوږو نه پوهېږي
دلته په هر زړه نفرتونه راج کوینه

زه خو د مرګه اشنا نه یمه
په تا مې هم خاورې پېرزو نه شي
هسې بې وخته زموږ دواړو ځواني
ځار د بارودو د لوګو نه شي
زما دعا ده خدایه دې موږ نه خوارو

PUKHTO.NET

موږ به په زړو لو جبر هم نه کوو
خو موږ به تېښته د وطن نه کوو
موږ به یو بل په دیدن هم مړوو
په ځان پېرزو به د کفن نه کوو
ډېر ځواني مرګي ادیرو خوړلي دینه

موږ به د خپلو ارمانونو ژبې
د شوګیرو په انتظار اوګنډو
موږ به د زړه د لیوني په خاطر
د بېلتون غر په هره لار اوګنډو
زموږ د پټ به زموږ زړه تکوروینه

مونږ د یوسف د شربانو د وطن
په خپله مینه باندې مړه مېنن یو
مونږ د ادم د درخانۍ د تاریخ
لو دوه بې وسه پښتانه مېنن یو
مونږه به خلق په سندروکښې ستائینه

PUKHTO.NET

مونږ پښتانه لو پښتانه به یو تل
مونږ به تیارې کړې د وهولو رنړا
زمونږه غرونه عظمتونه زمونږ
مونږ به پرې اوشیندو د زړولو رنړا
هغه به زړ شي چې څوک مونږه زړوینه

د مینې خپل د لیښتون خپل تاریخ دے
سیاله مونږه به دا یو اوګنړو
ملا لښئ جنګ او درخو مینه کړی
سیاله مونږه به دا لو اوګنړو
د خپل تاریخ منصف به مونږ نه بېلوینه

○

داغ داله ځیګر لکه لاله راکه
ماله دَ دردونو حوصله راکه

بس دے ارمانونه دَ کار شیزنه دي
زړه له مې همت او وَلوله راکه

تل چې سه مُونوته بېدارېږي
وَخته دَ ازغو په سُوکو تله راکه

درد دَ مُحبت پکښې زور شوے دے
زړه له مې څه لږې کشاله راکه

خاورې مې پښتو دَ چا دَ لښونګو دے
خدایه دَ وختو لو په سر تله راکه

ډېر لوازې شوے یم سیالانو نه
ماله دَ ملګرو قافله راکه

PUKHTO.NET
پښتو کتاب پلېټ

# اخري سا (نثري نظم)

زه د مرګ او محرومو په مینځ کښې
د ازمیښتونو او اذیتونو
په پل صراط ولاړ یم

چې په یو سر یې مرګ او بل محرومي دي
او په مینځ کښې حالاتو رټلې او لوټلې
یو بې وسه انسان دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

د ګناه او ثواب وخت تېر دے
بس د ژوند یوه اخرنۍ سلګۍ پاتې ده
او زه غواړم چې دغه اخرنۍ سلګۍ
ستا د مسکو سترګو په رېښمینه خندا کښې
د شین اسماني رنګ د خال د پاسه
اخري سا ورکړې

ځکه چې زه نه غواړم
چې زما په مخ د مرګ د یرې او محرومو د اذیتونو
سیلوړه کرښې موجود وي
زما ارزو ده چې زما په مخ
ستا د سپېلي خال د خوشبو تاثر
او ستا د رېښمینې لپستې خندا
ګل ګل مسکیتوب پاتې شي
زه به دې داپېرزوینه داسې ګڼم
چې زه مړ نه یم ژوندے یم

○

په ګل بدن جانان دې هسې الزامونه
دَ خپل زړه دَلاسه
زه دَ خپل زړه دَلاسه
په اور کښې سوځم

ناز او غرور مِينه کول نه کول
دَغه دَ ښکلو حق دے
چاته انکار او چاله زړه ورکول
دَغه دَ ښکلو حق دے
مناسب نه دي شوکول په زور ګلونه

ښکلي که ښکلي دي دَ ځان دَ پاره
په ليونو څه کوي
يا دَ ګل مخي رنګ جانان دَ پاره
په ليونو څه کوي
چرته ازغي چرته وريښم ريښم مخونه

PUKHTO.NET

محروم محروم ارمان زړګیه
مَا په مَا وژني خله
دَ درَد په کورکښي په لړزان زړګیه
مَا په مَا وژني خله
دَ خپل ګوګل نه بهَر مه بوده قدمونه

دَ ځلمي توب دَ ځوانۍ دوَر نه دے
زړه رانه غواړي مینه
دا دَ ارمَان دَ مستۍ دوَر نه دے
زړه رانه غواړي مینه
زمَا فطرت زمَا په ژوند کوي ظلمونه

PUKHTO.NET

لا مې حالات بادوې خاورې په سر
زړه په تاخه شوې دې
لا مې ولېښې ګرېوان په ځېګر
زړه په تاخه شوې دې
لا مې شلولې دَ غم نه دې زنځيرونه

هَر څوک دَ خپل زړه دَ تسکين په خاطر
په ژوندکښې خوند لټوي
څوک دَ فرهاد څوک دَ شيرين په خاطر
په ژوند کښې خوند لټوي
سيالا زه خو نه شوګير شوم نه خلوتۀ
دَ خپل زړه دلاسه
زه دَ خپل زړه دلاسه
په اور کښې سوزم

۞

حادثه اوشوه خُله دې رانکړله
خوما مې خپله سا په سا نکړله

ما دې د زنې په خال وژنې همېش
چرته دې ورکه دا بلاؤ نکړله

په ليولو يئ ووٌ لازم احترام
ما دې د مخ کعبې ته شا نکړله

څه مې رشته وه د دردونو سره
تا که په سترګو کښې خندا نکړله

دا ډېوه هر څوک بلوي په اُښکو
سيال په وينو چا رڼا نکړله

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# قطعه

ډېر ګلونه دي په وينو کښې خړوب کړل
ډېر دي اوړل په مړو ميخوړو سترګو
د رُخسار د غنچګونو دي خير غواړه
ګلستان دَرلېږي ګرځې په سرو سترګو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

لیوني به په زنځیر تړلي نه وي
که دې زُلفې وَل په وَل بنګلې نه وي

که دَ وِینو خوند مې اخلې ځان ته ګوره
که په رنګ مې ستا دَ رنګ لمبې نه وي

که خبر ووم چې ته هم زړه دَ جانان یې
خدایه مَا به درنه هیڅ غوښتلې نه وي

دَ ګُل سَورې ته نن هَغه خلق ناست دي
چې یې وِینې دَ ځیګر شیندلې نه وي

دَ ګلُونو نه په کومه خُله رنګ غواړې
خپلې وینې دې په ګُل نوستلې نه وي

دَ سپَرلي هوا خو مسَته وه سیاله
دَ وصال جذبې دې ګرمې ولې نه وي

○

چې سپوږمۍ د رقيبانو کلي کور شو
د پېمخو د کتو نه مې زړه تور شو

يو انسان د بل انسان د وينو تږے
يو ارمان د بل ارمان په سينه سور شو

خدايه دا جهان موسم د پسرلي که
د نړۍ د انسانانو فکر سپور شو

د خپل وينې وينې زړه شکرګزار يم
چې د ګل د سينې زخم پرې تکور شو

دا الزام په رقيب مه لګوۍ خلقو
زما زړه زما د لاسه کړي کور شو

د ارمان د دار په سر به يې ديدار کړے
که سيالے د ارمانونو د پېغور شو

○

ګرانه دا سوال دَ اوربدو دې کنه
ستا دَ جمال دَ لیدلو دې کنه
یا مِینه راکړه یا رټلي جوابونه کنه
ځواني تېرېږي

ځواني تېرېږي وخت روان دې کنه
دَ زړه په کور کښې مې لړزان دې کنه
ستا مې ډوبېږي تنګ جهان دې کنه
په سرو منګولو مې راټول کړه پرهرونه کنه
ځواني تېرېږي

ګوګل مې اور اخلي سوزېږي کنه
دَ ارمان څانګي مې اوچېږي کنه
ستا دَ ښایست سیوري غورېږي کنه
دَ زړه تږاکي دَرنه غواړي تکورونه کنه
ځواني تېرېږي

PUKHTOONET

○

دَ انتظار دا عـــذابونه کنه
اور ته نیولي مي زخمونه کنه
دَ شونډو راوړه ټکورونه کنه
په صَبر صَبر کښي به اوشي فسادونه کنه
ځواني تېرېږي

په صَبر صَبر نه صَبرېږي کنه
زړه مي ماشوم دے نه پوهېدې کنه
په چَل او وَل نه قلارېږي کنه
ترڅو چي را نه وړېږي دَ سرو شونډو خوندونه کنه
ځواني تېرېږي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دا ستمونه دي پرېږدې اوکه نه
په پرهرونو مې خوله بندې اوکه نه
دَ ژوند په لاره سره ځې اوکه نه
شلول به غواړې دَښمن زړه زنځیرونه
ځواني تېرېږي

PUKHTO.NET

ځواني که لاړه نو بیا لاړه کنه
که ژاړې ژاړې نو بیا ژاړه کنه
سیال که غواړې نو بیا غواړه کنه
نه به ځواني وي نه دَمینې به وختونه
ځواني تېرېږي

لږ انتظار اوکه خفه نه شې صنم اودرېږه
دَرد مې دَ زړه په وینو ونیځمه درځم اودرېږه

دَ اسمان جبر لږ دَ خپل نظر په زور لوهه که
په تندرونو کښې را اونغاړه موسم اودرېږه

ستا رقیبانے سترګې نه منی عظمت دَ مینې
بل مې دَ زړه په پوله وانخلې قدم اودرېږه

یوه لحظه چې دَ ارمان دَ سلګۍ سر ته کېنو
لږ مې دَ خوږ ځیګر دَ ځړیکو په قسم اودرېږه

سیالاو ژوند دَ ازمېښتونو په ډاډ نه کېږې لو
دَ خپل نظر دَ تیندکونو سره سم اودرېږه

ارمانونه مې لوګي سترګي ډيوې کړه
اور ته نيسمه زړګي سترګي ډيوې کړه

که ورک شوې ځان دې ګوره تيار کښې
دَ ځيګر وينې لمبې سترګي ډيوې کړه

مّا دې لږ دَ تورو زلفو بنديوان کړه
ورونه بند که دَ لوبې سترګي ډيوې کړه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نيټ

دَ خيل فکر دَ وحشت نه مې ازاد کړه
رانه تاؤ کړه زولنې سترګي ډيوې کړه

که دَ سرو شونډو تکور ته دې زړه کيږي
په مزه مزه يې مرې سترګي ډيوې کړه

نيمه شپه دَه تنهائي زړه مې ډوبيږي
شابه شابه محبوبې سترګي ډيوې کړه

شوګيرو له مې کنډم سترګي سيالا
خدائې دَ پاره دا لَشې سترګي ډيوې کړه

○

که خاته دې دَ جَبین سپوږمۍ ته ګران دې
خپلې وېښې بلول راته اسان دې

دَ یو خال په جاګیر مَست پې مخې وانې
دَ دې دوَرخنه بې سره غلامان دې

دا ګلونه چې دُ دار په سُوکو خاندي
زنګېدلي په کمَسوکښې دَ جانان دې

ګرانه یاره دا دې هم مهرباني ده
چې رنګونه دې دُ سترګو په لرزان دې

دَ غضَب غضَب کتو نه دې لوګي شَم
بیَا دې شکلې دَچا وِینې دَ ارمان دې

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

# قطعه

ستا دَ مستو سترګو اشاره غواړي

مِینه مي هر وخت په غرغره غواړي

ما ورته دَ زړه کود ے منولي دے

ګل رانه ګملا او ګل دره غواړي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

دَ زړه دَ درده به بیمار شم زه خو نه پوهېدم
ستا دَ قاتلو سترګو زار شم زه خو نه پوهېدم

زه خو دَ ننګ دَ قافلې دَ جرس غږ پسې تلم
زه به روان په بله لار شم زه خو نه پوهېدم

ما دې یوه سترګه دُنیا بله عقبا ګڼله
دَ خدائے رسُول به ګناهګار شم زه خو نه پوهېدم

ستا دَ اوربل دَ هر یو تار لاره مقتل ته رسي
اوس دې دَ کوم مزي په دار شم زه خو نه پوهېدم

زړه مې اوړه اوړه شو خاورې شو رانجه مې نکړو
ما وے دَ سترګو به سنګار شم زه خو نه پوهېدم

لکه تصویر سترګې مې نه رپي یو خوا ته ګورم
زه به یو ستړے انتظار شم زه خو نه پوهېدم

زه به دَ هر کس و ناکس ښکلي درنانه هُم اورم
سیالو دومره به هم خوار شم زه خو نه پوهېدم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

دَ ژوند هره فیصله مې تاواني ده
دا دَ درد او دَ احساس مهرباني ده

ستا دَ ټکوټکو سترګو بلا واخلم
دَ زړه زمکې له مې راشه باراني ده

دا دَ کوم يو ادم زاد دَ زړه دعا ده
چې جوسه مې لا تر اوسه انساني ده

دَ غیرت دَ تاریخ پاڼې مې ګواه دي
ما به یو موتې وجود کړې خاني ده

ستا دَ شوندو دَ لذت نشې راویخ کړم
بدبختي زما دَ خوب هم اوشاني ده

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

په ګل درو دې وزول اورونه
د نظر تاو دې ځمېدو اوکه نه
په سرو لمبو کښې دې سېزل ګلونه
ظالمه زړه دې خوږېدو اوکه نه

هغه د ګل په رنګ ښکلې کوچۍ
هغه ساده ساده د کلي کوچۍ
هغه د پت او د حيا مېرمنې
نن د طورخم په سرک زغلي کوچۍ

اوتر اوتر سرلتور سرتور سرونه
فکر دې دومره رسېدو اوکه نه

دا دَ نازولو دَ دُنیا ښکلي وو
دَ ننګ دَ خاورې نه پیدا ښکلي وو
دغه بچي دَ آبدالي او خوشحال
دا خو هُم ستا دَ وطن ستا ښکلي وو

PUKHTO.NET

په وینو سره دې کړل نازک مخونه
دَ چا فریاد دې اوریدو او که نه

خدایه دا مونږه لیوني پښتانه
دَ شاړو دشتو غرځني پښتانه
دا در په در بې کوره شوي خلق
دَ خپلې خاورې ارماني پښتانه

لږ خو را اوکړه دَ کرم خیالونه
دغه قیامت دې اولیدو او که نه

ارمان ارمان د وطن شوخو جونو
ارمان ارمان زلمو د مستو غرونو
ستا سو به درد او بې وسې مې قسم
زما د فکر د شمع ګلونو

چې ورالوم به د ستم برجونه
سيلا زور مې رسيدو او که نه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

---

## ستورې رڼې

د ګلستان د ګلو سورې رڼې
ستا د رخسار لمبو ته کورې رڼې
سترګو دې داسې قيامتونه جوړ کړل
چې د اسمان د جبين ستورې رڼې

۵

زما ارمان څومره ساده دے چې وار هُم نه کوي
خوب د خالونو په سر غواړي روزګار هُم نه کوي

ستا په کوڅه کښې هر سړے ولاړ دے کاڼي په لاس
زړه که هر څومره وارخطا د څو وار هم نه کوي

د غه ملنګ د زندګۍ د تخت باچا خو نه دے
چې یې هر څوک په کاڼو ولي ازار هم نه کوي

PUKHTOO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چا ستمګرو پرې لونښتلي دي بارود د غضب
زما د زړه زمکه ګل نه کوي خار هم نه کوي

د خپل نظر د تینډکولو نه هُم ستړے وېزار
د محبت د لبونو سره لوړ هُم نه کوي

نمر او سپوږمۍ مې چې راغواړي په ولور کښې جانا
د اقرار شرط یې عجیبه دے انکار هُم نه کوي

نه یې د خپل نظر ژړا اشته نه خواستګار د زما
سیال بېګا صبا کوي انتظار هُم نه کوي

○

دَ انتظار له دَرده خور نه شوے
لو شوے زړګیه خو لولو رنه شوے

اے دَ ښائیست دَ سپرلي روښ سحره
دَ زړه په زخم کښې مې کور نه شوے

ستا دَ ښړو دَ هر سنګین په سوکه
ارمان! زموږ سینے تکور نه شوے

دَ ازمیښتونو دَ زندان او کوټے
زموږ جذبے موږ ته پیغور نه شوے

سیالا نشته دې شیرینه غیږه
که دَ فرهاد دَ مټو زور نه شوے

○

زه خو دُنیا جوړه جوړه غواړمه
زه د رقیب سره هم تله غواړمه

زما د ګلی لیوونی بربنډ دی
زه درنه ځان له جامے نه غواړمه

PUKHTO.NET

نه د جنت نه د دُنیا ارزومند
ژوند لکه ناوے هره شپه غواړما

دَ خپل ارمان دَ خون بها په بدل
پښتون به نه یم چه سوره غواړمه

دَ ښار لوګو او شور خوبلی زړه له
دَ پښتون خوا دَ غرو تپه غواړمه

دَ ژوند نبضونه تخنولے چه شی
دا سے یو پیغله وَلوله غواړمه

پښتون زلمی له پښتنو جُولنو لمه
یو له کُودر بل له حُجره غواړمه

دَ بڼو ستنے پکښے نه خخیږی
دَ زړه کمرَے نړیده غواړمه

دَ واوُروُ کښے په واوَرو نه ماتیږی
سیالا غیږ کمے لوډه غواړمه

د زړه دشتونه مې سپړلې جانان په مخه واخلي
ماڅم د مینې تصور پریشان په مخه واخلي

چې د سحر په بانګ تپه شي د بنائیست د عظمت
د وطن ښکلي مې ساده ارمان په مخه واخلي

زړه د خیل زړه په باور ځم منزل ته اورسیږم
بې زړه ملګري مې شمن ایمان په مخه واخلي

وَختنه د ژوند د طوفانونو نه ما مه یرَوه
زما پرې څه که مې ریښې ګریوان په مخه واخلي

د زړه تنزلې به دې اُچوي ګرانه صندمه کوه
که دې د ژوند د حادثو طوفان په مخه واخلي

ځان کړې د ځان په خوږ وموږ ما کړې د ځای په وینو
د ګلو لختنه چې د ګل ارمان په مخه واخلي

ستا دَ جمال نشه مَنم خو جَلال خوند نه کوی
زړه زنګیدلے دَ غمو لوُ پـه تال خوند نه کوی

دَ متهو زور دَ محبت دَ کلی رسم نه دے
خو پـه اُلفت کښے دِ نیدلوُنه پـه سوَال خوند نه کوی

دَ چا پـه زړه داغ الیشودل لو یـه ګناه ده مَنم
بغیر دَ دے نه تصوّر دَ جمال خوند نه کوی

میُن، میُن وی لکه غوَ هسے سِینه هم لـری
دَ ژوند پـه هر پړاوُ کښے ستړے مَلاَل خوند نه کوی

دَ سپینو تورو پـه بر لیښنا کښے هم نغمه ده هم ساز
ناست دَ مغلو پـه دربار کښے خوشحال خوند نه کوی

زړه دَ حسیُن سره او توره دَ یـَذید دَ پاره
پـه محبت کښے دا بے پته مثال خوند نه کوی

حیرته به ګرځی خیل غزل لـه بـه رنګونه کوری
پـه کُتـه کښے ناست مراقبه او سیال خوند نه کوی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

۵

څوک چې دَ مړو سترګو اثر نه مني
هَغه دَ حُسن جادُوګر نه مني

زه خدائے مېئن کړمه په داسے کافر
څوک چې دَ مینے زَوګودر نه مني

ښکلیه پام مغرور نظر دے لوبې که
پښتون دَ سر دَ پاسه سَر نه مني

زه هَغه کس دَ لارے مَل نه ګڼمه
څوک چې عَظمت دَ پېښور نه مني

ته به دَ ځان دَ پاره بَل نه مَنے
سَیال دَ مینے نه مُنکر نه مني

سَیالا تل به وی رانده په سترګو
چې کرامت ستا دَ نظر نه مني

PUKHTO.NET

○

د رقیبانو د لمسون نه کلے شله کوی
د محبت د زړه چاودون نه کلے شله کوی

چه د الفت د ازادئ په معنیٰ نه پوهیږی
زما د سیمے د مجنون نه کلے شله کوی

PUKHTO.NET

لا د وحشت د جهنډ د اوره نه دے ازاد
په دا سے حال کښې د لېښتون نه کلے شله کوی

چه د وطن اوږی شور نه کوی د خلے لوږے
عبث د دهر د قارون نه کلے شله کوی

د نن په شپه کو کښې پیدا شی د صبا زخمونه
د زړه زخمونو د پرون نه کلے شله کوی

سیالو مونږ د لوپتے په قدر نه پوهیږو
اوس د سر لتور سر د بدلون نه کلے شله کوی

○

دَ خپل ارمان کنډر ته نه شم کتے
په غم لتاړ ځيګر ته نه شم کتے

دغه دَ درد شپه دے تمامه نه شي
چه ستا دَ مخ سحر ته نه شم کتے

يار مړه ورځ نګريز غواړي واي ځے
کلونه پس اختر ته نه شم کتے

دا دَ ارمان مستي تر اوُنه وځي
دَ زړه ويران کنډر ته نه شم کتے

دَ اباسين په غاړه اور اولګيد
په غم لتاړ ځيګر ته نه شم کتے

اے دَ رنګولو دَ ماښام پلوشو
سترګے مے برليښي ډر ته نه شم کتے

PUKHTO.NET

○

اے زما دَ ستړګو توره
لېَ خوراشه لږ خوراشه
دَ ارمان دَ درد ټکوره
لېَ خوراشه لږ خوراشه

لاس مي نه رسي اسمان ته
دَ وحشي قاتل ګرېوان ته
تا بوځي رانه ترکوره
لېَ خوراشه لږ خوراشه

دا په نيمه شپه چي ژاړي
ته به څوک له خدايه غواړي
چي نعرے وهے په زوره
لېَ خوراشه لږ خوراشه

خپله مینه خپل وطن دے
یوه وینه یو بدن دے
نشته هیڅ خبره نوره
لږ خوراشه لږ خوراشه

ته نغمه یې ته اتڼ یې
د خوږو خولو بنړ یې
چې ته نه یې دنیا سپوره
لږ خوراشه لږ خوراشه

لږ یې ځوانې چارې اوکړه
په لمبو کښې لارې اوکړه
بې ننګي مه کوه کوره
لږ خوراشه لږ خوراشه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

یوه سترګه زلیخه کړه
بله سترګه میمونه کړه
مه یریږه له پیغوره
لر خوراشه لر خوراشه

کله سرې شي کله سپینې
کله اوښکې کله وینې
د سیال سترګو ته ګوره
لر خوراشه لر خوراشه

○

دا زړګي مې دېوانه ستا د سترګو جانانه
ما ساتلې ډېر په ناز د هر غم نه بېګانه

د جانان د بنګړو شرنګ بلها زړونه کړي په جنګ
دا فتنه د محبت څومره ښکلې افسانه

پېغلتوب چپې چپې زلمیتوب غورزنګ غورزنګ
غاړه باسي د لوبل اباسين شو مستانه

دا د سين د چپو شور سپينه خله سپينه کوکې
ماته وائي راشه واخله زما غېږه ميخانه

دې سجدو خو مونږ د ژوند د هر خوند نه کړو په څنګ
بيخ دې اوځي د تقوىٰ ځم وځم په ميخانه

لمبه لمبه بارود د جانان دے
د محبت په جنګ کښے څه تاوان دے

د اداګالو د غضب په ښار کښے
اوتر اوتر دے وارخطا ارمان دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دا خوږو زلفو له خنجر چا ورکړو
په تیندکو نو د زاهد ایمان دے

د خپل ضمیر قاتل مے او پیژندو
زما په لاس کښے هم زما کریوان دے

زما ارمان ئے ماته او لمسو
په خپل زړګی مے د رقیب ګمان دے

○

زموږ وطن ذره ذره دَ حُسن
ده دَ جنت هَره قطره دَ حُسن

دَ گلَ په پاڼو کښے نغاړلے بَدن
په يخو واورو کښے لمبه دَ حُسن

موږ به دَ خپلے اُوروزګار غمونو
هيڅ نه کړو لوبه په مزه دَ حُسن

زړه دَ جانان واک دَ رقيب خدايه
چرته دے جوړه کړه فِتنه دَ حُسن

په شوګيرو کښے به خوند څه يا ستے
دَ زړه دَ درده چه ځي شپه دَ حُسن

سيالا ستا وينے خو سپينے نه وے
ولے دے رنګ نه کړه قيصه دَ حُسن

PUKHTO.NET

○

جوړ په جُنون کښې مې زور پاتې نه شو
په ذولنو کښې مې شور پاتې نه شو

دَ انتظار خوا بِه او خَوند دَ شوګير
دَ جانان کلي کښې نور پاتې نه شو

دا سې خو زړه دَ کاڼي بُت نه وو مه
زور دې دَ وريځو دَ لور پاتې نه شو

په مَيخانه کښې اوس کښې اړوي ؟
ساقي مُلا شو ميخور پاتې نه شو

دَ زړه دَ ځړيکو ډې اوس خدائے مَل شه
دَ ګُل په مخ کښې خو اور پاتې نه شو

بس خو چه سترګې پړې خوږې شي دومره
دومره دَ سترګو مې لور پاتې نه شو

سيالا ژاړې او که خاندې خو ځوک
دَ زړه دَ درد دَ تکور پاتې نه شو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نيټ

# فیصله

زړګیه ستا فیصله څه ده وایه
زه خو د سترګو نه فریاد تروړمه
لږ ورته چل د زندګی زده کوومه
لږ ییځی په لار د بغاوت بوځمه

PUKHTO.NET

○

لکه دَ خوَالو اَرمانونو دَ پالنګ تنده وي
دَ مینې زړه تنده شوک شه وائي چه څنګ تنده وي

په آئینه کښې خپلو سترګو ته ګوا ښیې دا سے
لکه په مخامخ لښکرو کښې دَ جنګ تنده وي

دَ محبت دَ درد چپې څه مستانه چپې وي
دا دَ جذبو دَ غزلو دَ غورزنګ تنده وي

بے وسه سترګے دا دَ مینے او دَ وینے غوا ړي
لوړ په پښتون اشنا کښې څه وي یو دَ ننګ تنده وي

اوس دَ سپرلي او دَ خزان په معنې پوهه شوم
یو کښې دَ وچو څانګو شوربل کښې دَ رنګ تنده وي

سیالا ستا رقیب دا ستا دَ وینو تږے لکه
دَ سمندر اَرته سینه کښې دَ نهنګ تنده وي

○

دَ جانان سترګي که رنګونه رندانه هُم لري
هَغه دَ زړونو دَ تللو پيمانه هُم لري

چيَ په غضب شي نو سوکونه شي تندي ماتوي
لکه رليښم پاسته لاسونه جانانه هُم لري

PUKHTO.NET

ورته به اوګړي جړته لار دَ اسوېلو ښځري
قاتل که ډېر هُم زور ور دَ ټکانه هم لري

دَ يزيد څه که څوک دَ تندي نه توقير سوري
ګني دَ يار سترګي کاسے دي ميخانه هم لري

زاهد دَ دين پابندي هم کوي دَ زړه هم مني
چي کله کله خوب دَ يار په ځنګانه هم لري

ستيا او ځار يي شم دَ سترګو نا اشنا قيصه ده
په داسې وخت کښي چي خولونه ليښتانه هم لري

○

ساقي جامولو ته مې زړه نه کېږي
بس تېندکولو ته مې زړه نه کېږي

بیا به د وخت په غزمونه شمه تلے
د بنړ خوبولو ته مې زړه نه کېږي

مينه د زړه د وينو دارې غواړي
د زړه دردولو ته مې زړه نه کېږي

چې يې صبا د ماتېدو يره وي
داسې لوظولو ته مې زړه نه کېږي

PUKHTO.NET

دَ خپلو غرُولو، دَ باڼدو نه قربان
دَ ښار رنګولو ته مې زړه نه کېږي

زمُا فکرُونه انديښنې خوښې دي
ډېرو خولُولو ته مې زړه نه کېږي

دَ زړه زخمُونه په کښې لا تازه شي
دَ باغ ګلُونو ته مې زړه نه کېږي

سیالو ستا سره شوخي شته نه رنګ
ستا محفلونو ته مې زړه نه کېږي

PUKHTO NET
پښتو ډاټ نیټ

○

خدایه دَ جانان ستر گے
څه ښېښې راوړي راځي
مَا به کړي مَلنګ مَلنګ
زړه به رانه وړي راځي

هر څوک چي راځي راځي
دا خیال دي کوي راځي
زړه دَ محبت غوټۍ
دا دي نه مړوړي راځي

PUKHTO.NET

رنګ د ګلالي راوړي
شوندو له سرخي راوړي
مستي فضاګاني دي
فکر د سپرلي راوړي
لاس به په نکريزو سره
څڼې خوروي راوړي
نيغ اوږده باڼه
سترګې توروي راوړي

هرڅوک چې راځي راځي
دا خيال دې کوي راځي
خيال به په يو لوني ساز
ژوند ته غزوي راځي

PUKHTO.NET

مونږ غریبانان مینّ
مینې لیئونه لرو
لوږ څه که لرو که نه
درد د زندګۍ لرو
ډېر که مو غمونه دي
ډېرې که سنګې لرو
هر وختې هشاش بشاش
بیا هم خوشحالي لرو

هر څوک چې راځي راځي
دا خیال دې کوي راځي
زار یې شم د سترګو نه
مینه به راوړي راځي

PUKHTO.NET
پښتو دا نړۍ

خُله که مَو په وینو سره
هَرچاته خندلے شو
هَرچاته په رُوڼو تندي
غېږې ورکولے شو
مونږه که مجبُوره لُو
خپلې اوښکې څښلے شو
وران که مو کورُونه دي
پټ په کښې پاللے شو

هَر څوک چې راځي راځي
دا خیال دې کوي راځي
زړه چې دَ پښتون لري
ننګ او پت لري راځي

زه او زړه چې ژوند کوو
ښه یې په همت کوو
نه دَ چا مُوتازه یُو
کلې په غیرت کوو
مونږ دوه لیونې یاران
داسې عَبادت کوو
لو صلاح یوه رضا
فکر دَ اُلفت کوو

هَر شوک چې راځي راځي
دا خیال دې کوي راځي
دا غرُور او دَغه ناز
هَر څه به مَنې راځي

PUKHTO.NET

○

د حیا د زړه د وینو رنګ په کار دی
ستا خو د خپل ښایست قلنګ په کار دی

په خوب اوده فکر و نه او پاریدل
ښه شوه چې دې سیمه لو جنګ په کار دی

PUKHTO.NET

د الر او بر پښتون به یو شي آخر
ولې په ورور خود ورور ننګ په کار دی

مونږ به لا سونه هغه چا ته ورکړل
د کومو خلقو نه چې شنګ په کار دی

هیڅ کمی نه وه د زلمو سرونو
د آدم خان د رباب ټنګ په کار وو

پښتونستانه څنګ به نه جوړیږې
د ګرمو وینو یو غورزنګ په کار وو

PUKHTO.NET

پښتون په اصل کښې جنګي نسل دے
خولو باغي لکه پتنګ په کار وو

سیالو مونږ به دې اوده اولس له
د ابدالي د تورې شرنګ په کار وو

# پناه (نثري نظم)

څلوېښت کاله پس ....
چې مونږ دَ خپل کور په زمکه قدم کېښودو
لږ بې اختیاره په ژړا شو
خو دا اوښکې
دَ زوړ کور دَ کنډراو تېر وخت دَ محرومو
یا دَ چاخان دَ ېښو دَ زلولو
دَ یرې اوښکې نه وې
دا دَ خوشحالۍ اوښکې وې
چې کله کله سړے دَ ډېرې خوشحالۍ نه هم ژړغونې شي

مَا او بچو لو بل ته په سترګو سترګو کښې اوکتل
او زما په زړه کښې غلې او خاموشه غوند ے
لوه ویرژنه چېه لاړه راغله
ما داسې محسوسول
چې زه څلوېښت کاله مخ بروت ووم
او نن دَ تاریخ یو داسې موړ ته راغلې
چې زه یو ځل بیا راژوندې شوم
نه صرف دا چې ژوندې شوم
بلکه ازاد هم شوم
دَ خپل ویرژن او تریخ ماضي دَ ویراو تږخو نه آزاد
ځکه چې ماله او زما سرلوړ سر ماشومانو له
خپلو دېوالونو پناه راکړې وه

PUKHTO.NET

دَ دے مجموعے سندرے دَ پښتو
ژبے دَ خوږوالی خوندونه او دَ پښتون اولس
دَ ژوند رنګونه په هغه ملی سُر کښے چه زمونږ
په ختم او روحیاتو کښے سحر ژن اثرات لری'
دا سے بیان شوی دی چه که یو خوا زمونږ دَ
ثقافت مخښے لری نو بل خوا دَ سیال دَ شاعری
زور، تخیل پرواز او فن په ښکلو کښے دَ ګودر دَ
غاړو، دَ پنګټ سیو دَ قدم دَ ګڼا او دَ نکریزی
لاسونو دَ بنګړو شرنګا زمزمے پیدا کوی.

دا سندرے دَ سیال دی خوما ته
دَ هر حیا دَ زړه جذبه او دَ ذهن عکس ښکاری
او دا خبره ثابتوی چه که مونږ تعالی پریږدو
او خپل احساسات، جذبات او تاثرات په خپله
ژبه، وزنونو، علامو، اشارو کنایو کښے بیانوو
نو دَ خپل ثقافت ګلونه دَ فن په ګلدسته کښے
دا سے په خوند، اسانئ روانئ پیرلے شو' دَ
پښتو ادب به ورته وبګلے شو، فخر به پرے
کولے شو، دَ دُنیا سیالانو سره به برسیالی
کولے شو جدت او ارتقائی سمون به پکښے
راولو او ملی ژوند، ثقافت به دَ مستقبل دَ
تقاضو او معیارونو دَ مخکښے تګ سره په
نړئ کښے ځلولے شو — اجمل خټک۔

